٦٨٨

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۳۱مه ګڼه، د ۱۳۹۶ لمریز کال د عقرب ۲۰مه، د ۱۴۳۹ هـ ق د صفر ۲۲مه، د ۲۰۱۷م د نومبر ۱۱مه نېټه

ستاره افغان

هنر یا فساد؟

سوله

تر هرڅه وړاندې!

در افغانستان

هیچ‌کس و هیچ‌جای مصؤون نیست!

به اشتباهت اعتراف کن!

بسیاری از مشکلات که منجر به دشمنی‌های چندین‌ساله می‌شوند، حلّ آن‌ها فقط اینقدر خواهد بود که یکی به دیگری بگوید: من اشتباه کردم، من از شما پوزش می‌خواهم، اگر وعده خلافی کردی یا شوخی نابجایی کردی یا کلمه‌ی تندی بر زبان آوری، پس قبل از آن که آتشی به سبب آن شعله‌ور گردد به خاموش‌کردن شراره‌هایش عجله کن.

مثلاً بگویید: آقا من متأسفم، شما بر من حق دارید، شما خوش‌دل و شادکام باشید.

چه زیباست که ما تواضع و فروتنی کنیم و اینگونه عبارت‌ها را به گوش مردم برسانیم. در میان بلال و ابوذر ب خصومت و دشمنی درگرفت، حال آن که هردو صحابی بودند، اما انسان بودند. ابوذر به خشم آمد و گفت: ای پسر زن سیاه‌رنگ! بلال از این جمله نزد رسول خدا صلی الله علیه وسلم شکایت کرد. آنحضرت صلی الله علیه وسلم ابوذر را فرا خواند و گفت: آیا تو فلانی را ناسزا گفتی؟ ابوذر گفت: بله، پرسید: آیا اسم مادرش را بر زبان آوردی؟ ابوذر گفت: یا رسول الله! کسی که مردان را ناسزا بگوید، حتماً پدر و مادرش را یاد می‌کند. رسول خدا صلی الله علیه وسلم فرمود: تو مردی هستی که آثار جاهلیت در وجود تو هست. رنگ ابوذر عوض شد و گفت: آیا در وجود من کبر وجود دارد؟ آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: بله. سپس رسول خدا صلی الله علیه وسلم به او یک روش و منهجی تعلیم داد که هرگاه با زیردستان خود تعامل نماید، بگوید: قطعاً این‌ها برادران شمایند و خداوند آن‌ها را زیردست شما قرار داده است، پس هرکسی که برادرش زیردست او باشد، از غذایش به او غذا بدهد و از پوشاک خویش به او بپوشاند و آنچه در توانش نیست او را مکلف نسازد و اگر آنچه در توانش نبود او را مکلف ساخت در انجام آن کار به او کمک کند.

در این هنگام ابوذر چکار کرد، بیرون شد تا این که با بلال ملاقات کرد و از او عذرخواهی کرد و سپس در جلوی بلال به زمین نشست و به زمین نزدیک می‌شد تا این که گونه‌اش را به خاک گذاشت و گفت: ای بلال! پایت را بر گونه‌ام بگذار.

آری، صحابه رضوان الله علیهم در خاموش‌ساختن آتش دشمنی قبل از شعله‌ورشدن آن اینگونه مشتاق بودند.

آری، هوشیار کسی است که شکاف‌های دیوارش را مسدود می‌کند تا مردم نتوانند به داخل منزلش نگاه کنند، یعنی مجالی برای شک و تردید مردم در خود باقی نگذار.

اگر خواستی به مدینه برو و به رسول خدا صلی الله علیه وسلم بنگر، در آن حال که در یکی از شب‌های رمضان معتکف است، همسرش «صفیه» دختر «حیی» به دیدنش می‌آید و اندکی نزد او می‌ماند و سپس بلند می‌شود تا به خانه‌اش برود، رسول خدا صلی الله علیه وسلم نمی‌خواهد که تنها او در تاریکی شب به خانه‌اش برگردد، لذا بلند می‌شود تا او را به خانه برساند.

همراه او در راه می‌رود و از کنار دو نفر از انصار می‌گذرد «وقتی آن‌ها پیامبر صلی الله علیه وسلم را می‌بینند که زنی همراه اوست به سرعت خویش می‌افزایند، رسول خدا صلی الله علیه وسلم به آن دو می‌گوید: آرام باشید این صفیه دختر حیی است. آن دو نفر می‌گوید: سبحان الله!

یا رسول الله! یعنی: آیا معقول است که ما در مورد شما شک بکنیم که همراه شما زن بیگانه‌ای باشد!

رسول خدا صلی الله علیه وسلم فرمود: همانا شیطان در بدن انسان همچون جریان خون گردش می‌کند و من ترسیدم که در دل شما [اندیشه‌ی] بدی نیندازد. یا چیز دیگری گفت.

شجاعت...

«شجاعت این نیست که تو بر اشتباهت اصرار کنی، بلکه شجاعت آن است که به آن اعتراف کنی و دو مرتبه آن را تکرار نکنی».

برخی از نوشته دکتور محمد العریفی

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سړک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته خېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی بنار، د هرات سړک، د سرې جامع غرب طرف ته سورې مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام بنار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۵۲۶۳۷۷۳ - ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

پکتیا: دگردیزبنار، مرکزی چوک ، دنې نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست : افغان ټاور شاته، خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: شهر زرنج، کوچه‌ی افغانستان بانک، جنب ریاست زراعت، دفتر جمعیت اصلاح: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

سرمقاله

سوله

تر هرڅه وړاندې!

په دې کې شک نه‌شته چې په افغانستان کې روانه جګړه د نورو جګړه ده او پر دې هېواد تپل شوې ده< چې هر هېواد ترینه خپله ګټه پورته کوي او په سر کې یې امریکا د دې جګړې اصلي لوبغاړې ده. خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې په دې ناورین کې په بې‌رحمۍ سره د افغان بچي مري او همدا هېواد پکې ورانېږي، خو لاهم په جګړه کې ښکیل اړخونه دې جګړې ته د سون مواد تهیه کوي او نه غواړي چې افغانستان دې هم په یو ډاډمن او سوله‌من هېواد بدل شي.

په روان کال کې په هېواد کې د جګړې زور زیات شوی دی او د ځاني تلفاتو شمېره هم د نورو کلونو پر پرتله ډېره شوې‌ده، خو په دې حالاتو کې امریکا او ناټو د جګړې د اوږدوالي اصلي عامل -چې بهرنی نظامي شتون دی- لا زیاتول غواړي.

په تېرو ۱۶ کلونو کې دا روښانه شوه چې جګړه په زور نه ختمېږي، بلکې یوازنۍ لاره یې د سولې خبرې دي، ځکه چې پر هېواد د امریکایي یرغل له لومړۍ ورځې تر اوسه پورې ورځ تر بلې حالات د ښه‌کېدو پرځای د خرابۍ پر لور روان دی او د جګړې لمن لاپسې پراخېږي، او هره ورځ افغانان د یو او بل لوري له خوا په وینو کې لمبېږي.

بلخوا له اصلي ستونزو نه د خلکو د پام اړولو په موخه داسې قضیې را مخ ته کېږي چې هیڅ ارزښت نه لري، د ملت د مختلفو قومونو ترمینځ د واټن زیاتولو هڅې کېږي، د فساد لمن ورځ تر بلې پراخېږي، او لاهم د ملي وحدت حکومت خپلمنځۍ ناندرۍ او کشمکشونه نه ختمېږي.

په داسې حالاتو کې د دې پر ځای چې په هېواد کې د سولې راوستلو لپاره هڅې ګړندۍ شي، د خوارو افغانانو پر ککریو سیاستونه او تجارتونه کېږي او ځینې کسان په ډاګه د امریکا لپاره د خپل ملت قرباني کولو ته چمتو دي. دا کسان چې په تېرو ۱۶ کلونو کې د چوکیو او روپیو خاوندان شول، نه ورسره د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ غم شته او نه هم د افغان په وژنه غمجن کېږي، بلکې یوازې د خپلو ګټو د خوندي ساتلو لپاره له زورورې امریکا سره د هغوی د خوښې خبره غبرګوي او د امریکا مخالفت ورته تر ټولو ستره ګنا برېښي.

زمونږ هېوادوال چې د ځلورو لسیزو جګړو ځپلي دي، تر هرڅه وړاندې یوې ډاډمنې سولې ته اړتیا لري، چې دا سوله د امریکا او نورو بهرنیانو په شتون کې ناوشوني ده، ځکه چې د جګړې اصلي سبب همدا امریکا ده او دا هم ټولو ته څرګنده ده او تېرو شپاړس کلونو کې ښه روښانه شوه، چې هغه ګاونډیان چې افغانستان کې جګړې ته لمنه وهي، د امریکا او نورو غربي هېوادونو له پوره ملاتړ څخه برخمن دي، ځکه چې افغانستان د امریکا لپاره د جګړې ډګر دی او پاکستان او ځینې نور ګاونډي هېوادونه یې ستراتیژیک تاریخي ملګري دي، کله هم چې د افغانستان جګړییز رول ختم شي، بیا د امریکا لپاره هیڅ ارزښت نه لري.

نو په دې حالاتو کې افغانانو ته ښایي چې نور د دې لوبې قرباني نه شي، د خپل هېواد د آبادۍ، راتلونکو نسلونو د سوکالس او د اسلام په‌خاطر په خپلو کې سره لاسونه ورکړي او د سولې لپاره پراخه کار پیل کړي او پر دې و پوهېږي چې امریکا او نورو ته د افغانانو وینه هیڅ ارزښت نه لري او نه هم دلته د عسکرو زیاتول د سولې لپاره دي، بلکې غواړي چې دا جګړه لاپسې اوږده او نور افغانان هم پکې ووژل شي.

از منبر
جمعیت اصلاح

در افغانستان

هیچ‌کس و هیچ‌جای مصؤون نیست!

نصیر احمد نویدی - رئیس شورای مرکزی جمعیت اصلاح

حملهی مسلحانه بالای شبکهی تلویزیونی شمشاد بتاریخ ۱۶ عقرب، یکبار دیگر کابل و کابل نشینان را به شدت تکان داد. این حمله نشان داد که حتی بنیادهای مدنی و ملکی در قلب کشور نیز از خطر مصؤون نیستند. جریان‌های سیاسی و دینی کشور وهموطنان ما در سراسر افغانستان حمله بالای شمشاد را حمله بر آزادی بیان تلقی نموده و به نکوهش آن پرداختند. جمعیت اصلاح نیز از آزادی بیان در چوکات قانون حمایت نموده، آنرا یکی از عناصر انکشاف و استحکام جامعهی ما میداند و به همین خاطر هم حملهی مذکور وحملات مشابه را همیشه مورد نکوهش قرار داده است. قبل ازین (بتاریخ ۱۲ و ۱۳ عقرب) ۱۳ تن از افراد ملکی -بشمول دو زن و سه کودک- طی حملات هوایی ناتو در ولایت کندز در شمال کشور بیرحمانه به شهادت رسانیده شدند. هرچند فرماندهی عمومی نیروهای امریکایی طبق معمول از کشته شدن افراد ملکی در حملات هوایی ناتو در شمال کشور انکار مینمایند، اما اعتراف رسمی دفتر یوناما به کشته شدن ۱۰ تن غیر نظامی طی عملیات مذکور هیچ شکی در صحت حادثه باقی نمیگزارد.

حملهی مسلحانه بالای شبکه تلویزیونی شمشاد در کابل، حملهی چندی قبل بر مسجد در کابل و حملات کور نیروهای ناتو علیه هموطنان بیگناه ما، در حالی صورت میگیرد که مشکلات متعدد دیگر از قبل جامعهی ما را به محاصره کشیده است. از یک طرف کمیتهی خاص مبارزه با گرسنگی در داخل کشور گزارش میدهد که نزدیک به ۴۰ فیصد از اتباع کشور با مشکل فقر دست و پنجه نرم میکنند و از طرف دیگر دفتر «یوناما» یعنی نمایندگی سیاسی سازمان ملل متحد در افغانستان اعلان نموده که طی مدت نزدیک به دوسال اخیر ۲۶۱ تن از هموطنان ما در بیش از چهل حمله بالای اماکن مذهبی ورهبران قومی کشور به قتل رسیده اند، که افزایش فوق العادهایرا نسبت به سالهای قبل نشان میدهد.

در گزارشی دیگر، وزارت امور مهاجرین اعلان نموده که طی سال جاری فیصدی عودت مهاجرین از خارج کشور (خاصتاً پاکستان) هفتاد درصد نسبت به سال قبل پائین آمده، که اسباب آن از گزارشات فوق بخوبی آشکارا میباشد. جنگ و بیامنیتی از یک طرف، فقر و بیکاری از طرف دیگر، با اضافهی مداخلات بیرونی و کشمکش‌های همسایگان‌ما و قدرت‌های بزرگ در کشور، افغانستان را به زندانی مبدل ساخته است که ساکنان آن نه فرصت زندگی آبرومندانهای را دارند و نه هم توان تغییر وضع موجود را در خود می‌بینند و به ناچار خود را تسلیم سیل حوادث نا گوار نموده اند.

بدتر ازهمه اعلان جدید سرمنشی عمومی ناتو (ینس ستولتنبرگ) میباشد، که اخیراً گفته است، تعداد سربازان ناتو در افغانستان با ازدیاد سه هزار تن جدید به ۱۶ هزار تن بالا خواهد رفت. این اعلان به تعقیب پالیسی جدید آقای ترامپ مبنی بر ازدیاد نیروها و تشدید جنگ علیه مخالفان حکومت، ضربهی جدیدی خواهد بود بر پیکر صلح و امنیت کشور. در حالیکه تحلیلگران منصف در اروپا و امریکا به این باور اند که غرب نمیتواند با ازدیاد نیروهای نظامی جدید، جنگ را در افغانستان خاتمه دهد، ولی متأسفانه پالیسی سازان در اروپا و امریکا با لجاجت به طرفی پیش میروند که انجام آن چیزی جز زیان مادی ومعنوی برای خود آنها و تباهی و هلاکت برای مردم افغانستان نخواهد بود. اگر پالیسی سازان غرب به خواست مردم افغانستان وقعی نمیگزارند، علی الاقل به ندای عقلای خودشان گوش دهند که با صراحت و بارها گفته اند ازدیاد عساکر وتشدید جنگ، راه حل قضیهی افغانستان نبوده بهتر است راه مفاهمه و صلح با مخالفان در پیش گرفته شود. مردم افغانستان نیز بیش ازین توان تحمل این جنگ فرسایشی را که بخاطر منافع دیگران در خاک ما براه انداخته شده، ندارند و به همین خاطر هم از حکومت و هم از مخالفان مسلح میخواهند تا داعیهی صلح را با صداقت تعقیب نموده دامن جنگ را از کشور کوتاه سازند.

خواله

عبدالفتاح جواد

فکري جګړه څنګه او د څه لپاره؟

پر اسلامي نړۍ باندې د لویدیځ هر اړخیز یرغل او د اسلامي امت د ژوند په هر ډګر کې دهغه لاسوهنه او فساد، کومه معما، پټه خبره، تهمت او اوازه نده، بلکې یو داسې څرګند او روښانه حقیقت دی، چې که یو څوک د مادي او منصبي ملحوظاتو له مخې پرې سترګې پټې نه‌کړي، نو په هیڅ صورت په دغه حقیقت سترګې نشي پټېدلای.

د دې جګړې اړ تېري خطرناک اړخ فکري جګړه ده، مونږ وینو چې په څومره قوت سره د مسلمانو ټولنو له ژوند نه د دین د ویستلو او بې اغیز کولو په موخه کار روان دی، د کلیسا د مستقیمو بلونکو او دعوتګرانو تنصیري او تبشیري فعالیتونه خو له پخوا نه مشهور دي او ستر ستر کتابونه پرې لیکل شوي دي، خو د نویتابه او روښتیا په زړه پورې عنوان لاندې چې کومه بدمرغه او خطرناکه پروسه روانه ده چې د اسلام ته منسوبو وګړو او د اسلامي نړۍ د په اصطلاح رونړ انده اشخاصو په لاس ترسره کېږي او هدف او موخه یې هم په اسلام باندې د ځوان نسل شکمن کول او له اسلامي شعایرو سره د ځوانانو د مینې او تړاو له مینځه وړل دي، دا نو بیا نن سبا او په‌دې عصر کې دومره محسوس دي چې هرڅوک یې په اړه معلومات لري.

د (جنګ فکري و راه های مقاومت) تر عنوان لاندې کتاب چې دکتور حسان محمد حسان لیکلی او استاد مومن حکیمي دري ژبې ته اړولی دی او انتشارات اصلاح افکار چاپ او خپور کړی دی (پدې هیله چې پښتو ژبې ته هم وژباړل شي) پدې موضوع باندې ډیر موثر او ژور کتاب دی، ددغه کتاب لوستنه او مطالعه هر مسلمان ته ضروري او لازمه ده.

د کتاب په مقدمه کې لیکوال د لویدیځ له لوري د فکري جګړې په اړه -چې ولې او د څه لپاره روانه ده؟- څو ټکي یاد کړي دي:

۱. لویدیځ ځکه د اسلامي امت خلاف فکري یرغل پیل کړی دی چې زمونږ دین (اسلام) کې هغه کمال دی چې دوی تري سخت په ویره کې دي، او هغه دا چې اسلام د ژوند بشپړ نظام او قانون دی چې د انسان د ژوند د هر اړخ لپاره طرحه او برنامه لري او د بشریت نیکمرغي پکې نغښتې ده.

۲. د خیر او شر ترمینځ دایمي او همیشنی کشمکش او مقابله ده، چې د آدم علیه السلام له وخت نه پیل شوې ده او تر قیامته به دوام لري، څوک هم چې د انبیاء علیهم السلام په خط او لاره، روان وي او د هغوی رسالت او وظیفه پرمخ وړي - چې زمونږ امت دی - نو د هغوی خلاف به دغه جګړه روانه وي او دوی خو په دغه کشمکش کې طرف دي، ځکه چې الله تعالی وایي چې تاسې د دین تابع شئ او دوی بیا وایي چې دین د ځان تابع کړئ.

۳. دغه یرغل د یو شوم مثلث په وسیله سره پرمخ روان دی چې دري اړخه لري: یو یې استعمار، بل یې صهیونیزم او دریم یې کاپیتالیزم او پانګوالي ده، دغه دري واړه له یو بل سره تړلي دي او ګټې یې سره شریکې دي.

٤. د لویدیځ د یرغل اړخونه متنوع او ګڼ دي، په یوه اړخ پورې محدود ندی، اقتصاد، جغرافیه، سیاست، قانون، تعلیم، رسنی، هنر، ژبه، کلتور او هرڅه یې تر برید لاندې نیولي دي.

۵. د یرغل شکل هم هراړخیز دی، کله له بهر نه اوکله له دننه ، کله له پاسه او کله له ښکته، کله نیغ په نیغه او کله هم له پټو لارو نه حملې کوي، کله یې سیاستوال په سر کې وي او کله یې بیا دیني څیرې.

٦. دغه یرغل مسلسل او دوامداره دی، څیرې او وسایل به یې د وخت له غوښتنو سره سم بدلیږي اما هدف او حقیقت به یې هر مهال په خپل حال پاتې وي او هیڅ تغییر به ونه مومي.

۷. ددې یرغل یو مهم هدف د اسلامي نړۍ زیرمې او شتمنی لوټل دي، ددغه کار لپاره اړینه ده چې عقلونه تسخیر کړي، شخصیتونه او ضمیرونه واخلي، د ځمکو او هیوادونو د ښکیلولو لپاره ضروري ده چې ضمیرونه او عقلونه خپل کړل شي، دا یې مقدمه ده.

د کتاب لومړی فصل د فکري جګړې په تاریخ، دویم فصل یې په موخو او اهدافو، دریم فصل یې د فکري جګړې په وړاندې د مقاومت په اساساتو او څلورم فصل یې د مقاومت په وسایلو غږیږي.

دغه کتاب باید د هر مسلمان تر مطالعې لاندې وي او د راتلونکو نسلونو سر پرې خلاص کړي، ترڅو یې د ګواښونو پر وړاندې د سپر او ډال په توګه وسیله شي.

سازمان ملل متحد و قضیهٔ صلح در افغانستان

مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی

غیرت عمروف، رئیس کمیتهٔ تحریم‌های شورای امنیت سازمان ملل متحد و هیأت همراهش چندی قبل (۲۹ اکتوبر ۲۰۱۷) در سفری به کابل، در دیدارهای جداگانه با رئیس جمهور، رئیس اجرائیه و سایر مقام‌های حکومتی افغانستان روی قضیهٔ صلح و امنیت در افغانستان بحث و گفتگو کرد.

به گفتهٔ معاون سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان، در این دیدار رئیس جمهور بر نقش سازمان ملل متحد در تامین صلح در افغانستان تاکید کرده و گفته است که حکومت افغانستان همیشه دروازهٔ مذاکرات صلح با مخالفین را باز گذاشته و صلح با طالبان از طریق مذاکرات بین‌الافغانی انجام می‌پذیرد. داکتر عبدالله رئیس اجرائیه اما در دیدار با عمروف خواستار درج نام مولوی هبةالله آخوندزاده رهبر گروه طالبان و دیگر اعضای این گروه در فهرست تحریم‌های شورای امنیت سازمان ملل متحد شده است.

دو درخواست همزمان، یکی صلح با طالبان و دیگری درج نام رهبران این گروه در فهرست تحریم‌های سازمان ملل نشان‌گر تفاوت دیدگاه در سطح رهبری حکومت افغانستان است، چون رییس جمهور خواهان صلح از طریق مذاکره بین‌الافغانی است، ولی رییس اجرائیه خواهان وضع تحریم‌ها.

صلح در افغانستان قضیه‌ای است که سال‌هاست برای تامین آن در کنار حکومت و مردم افغانستان، کشورها و سازمان‌های جهانی و منطقوی نیز تلاش می‌کنند؛ ولی نه تنها این تلاش‌ها منتج به تامین صلح در کشور نگردیده، بلکه وضعیت کشور روز به روز وخیم‌تر نیز گردیده است.

در این تحلیل روی نقش سازمان ملل متحد در قضیهٔ افغانستان، فهرست تحریم‌های این سازمان و نیز تقاضای حکومت افغانستان مبنی بر شامل ساختن نام‌های رهبران گروه طالبان در این فهرست، پرداخته شده است.

افغانستان و سازمان ملل متحد

سازمان ملل متحد پس از پایان جنگ جهانی دوم در سال ۱۹۴۵م تأسیس و جایگزین «جامعهٔ ملل» شد. این سازمان که در نخست توسط ۵۱ کشور تأسیس شد، در سال ۲۰۰۶ میلادی ۱۹۳ کشور جهان، دارای عضویت در این سازمان بودند. اعضای این سازمان تقریباً شامل همه کشورهای می‌شود که از نظر بین‌المللی به رسمیت شناخته شده‌اند. تایوان و واتیکان تنها کشورهایی اند که عضو سازمان ملل متحد نیستند.

افغانستان در نهم نوامبر سال ۱۹۴۶م رسما عضویت سازمان ملل متحد را بدست آورد و برای نخستین بار محمد کبیر لودین در سال ۱۹۴۹م به عنوان نمایندهٔ دائمی افغانستان به دفتر سازمان ملل متحد معرفی شد. پس از آن عبدالحمید عزیز، عبدالرحمن پژواک، بسم‌الله سهاک، فرید ظریف، شاه محمد دوست، نور احمد، خدای‌داد بشرمل، روان فرهادی، ظاهر طنین و محمود صیقل به ترتیب از سال ۱۹۵۰ تا کنون نماینده‌گان دائمی افغانستان در سازمان ملل متحد بودند.

سازمان ملل متحد تا زمان اشغال افغانستان توسط قشون سرخ شوروی سابق در سال ۱۹۷۹م، نقش و حضور چندانی در افغانستان نداشت؛ اما پس از تهاجم شوروی سابق بر خاک افغانستان، این سازمان طی صدور قطعنامه‌ی در برابر تهاجم شوروی بر افغانستان اعتراض نمود و پس از پیامدهای ناگوار آن تهاجم، نهادهای مختلف سازمان ملل متحد نیز در افغانستان آغاز به کار کرد. موافقت‌نامهٔ «ژنیو» که درسال ۱۹۸۸م به امضا رسید و زمینهٔ خروج نیروهای شوروی را فراهم کرد، نیز نتیجهٔ تلاش‌های سازمان ملل متحد بود.

سازمان ملل متحد پس از خروج قوای شوروی از افغانستان تلاش کرد تا جنگ افغانستان یک راه‌حل سیاسی پیدا کند. در سال ۱۹۹۱ برنامه‌ی را آماده کرد که بر مبنای آن، قدرت باید از داکتر نجیب الله، به یک ادارهٔ غیرجانبدار انتقال می‌یافت و این اداره، زمینهٔ برگزاری انتخابات و تهیهٔ قانون اساسی جدید را فراهم می‌ساخت. اما این برنامه همزمان با پایان حاکمیت داکتر نجیب بی‌نتیجه ماند.

در سال‌های جنگ‌های داخلی در کابل نیز سازمان ملل متحد تلاش‌های به راه انداخت تا گروه‌های درگیر و رهبران تنظیم‌ها را دور میز مذاکره بیاورد. با آنکه تنظیم‌ها، چندین بار دور میز مذاکره آمدند، اما توافقات آنان عملی نشد. سپس در زمان رژیم طالبان نیز سازمان ملل متحد تلاش کرد تا زمینه برای مذاکرات میان نماینده‌گان ائتلاف شمال و طالبان را فراهم نماید. این سازمان در زمان طالبان، گروه شش جمع دو را نیز برای حل مشکلات افغانستان تشکیل داد تا طرف‌های درگیر در افغانستان را روی میز مذاکره بیاورد،

اما جلسات مکرر این گروه نیز نتیجهٔ ملموسی در پی نداشت.

با سقوط رژیم طالبان، این سازمان با حضور گسترده‌ی در عرصه‌های مختلف، فعالیت خویش را در افغانستان آغاز کرد و ماموریت‌های مهمی برای ایجاد سیستم اداری، ساختار سیاسی، تدویر لویه جرگه، تأمین صلح، نظم و امنیت، بازسازی، جلب مساعدت‌های مالی و برگزاری انتخابات را به عهده گرفت. در حال حاضر حدود بیست نهاد سازمان ملل در بخش‌های مختلف در افغانستان فعالیت دارند.

فهرست تحریم‌های سازمان ملل

شورای امنیت یکی از ارکان سازمان ملل متحد است که طبق مادهٔ ۲۴ منشور سازمان ملل، مسؤولیت اولیهٔ حفظ صلح و امنیت بین‌المللی به این شورا واگذار شده تا در اجرای وظایفی که به موجب همین مسؤولیت بر عهده دارد، از طرف اعضای این سازمان اقدام نماید و در اجرای این وظایف طبق مقاصد و اصول سازمان ملل متحد عمل کند.

شورای امنیت بر اساس فصل هفتم منشور سازمان ملل متحد می‌تواند تدابیر اجرائی برای حفظ یا اعادهٔ صلح و امنیت بین‌المللی اتخاذ کند. این تدابیر از تحریم‌های اقتصادی تا اقدام نظامی بین‌المللی را دربر می‌گیرد و هنگام شکست تلاش‌های دیپلماتیک، از تحریم‌های اجباری نیز کار می‌گیرد.

هدف از فهرست تحریم‌های سازمان ملل متحد که به «لیست سیاه» نیز معروف است، اعمال فشار به یک کشور، نهاد و یا هم فرد برای پیروی از هدف‌های تعین شدهٔ شورای امنیت، بدون استفاده از زور است. این فهرست شامل نام‌های افراد و نهادهایی است که به پیشنهاد کشورهای عضو سازمان ملل و تایید شورای امنیت این سازمان، ترتیب می‌شود و دولت‌های عضو سازمان ملل مکلف به اجرای این تحریم‌ها هستند.

فهرست تحریم‌های سازمان ملل شامل مسدود کردن دارایی، منع سفر و منع تهیه، فروش و انتقال مستقیم یا غیرمستقیم سلاح به افراد و گروه‌های تحت تحریم می‌شود. این تحریم‌ها تا زمانی که معافیت از آن‌ها تصویب و اعلام نشده، قابل اجرا هستند.

فهرست تحریم‌های سازمان ملل شامل دو بخش می‌شود: بخش نخست اسامی افراد تحت تحریم را در بر دارد که در حال حاضر نام‌های ۶۴۲ نفر در آن درج است. بخش دوم شامل اسامی نهادها و گروه‌های تحت تحریم می‌شود و تا اکنون نام‌های ۳۶۸ نهاد و گروه در این فهرست ثبت شده‌اند.

خواست شامل کردن رهبر طالبان در لیست سیاه

کمیته‌های ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) و ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) شورای امنیت عمدتاً برای وضع تحریم‌ها بر افرادی کار می‌کنند که متهم به فعالیت‌های «تروریستی» در افغانستان هستند. کمیتهٔ نخست برای نظارت از تحریم‌ها علیه القاعده و گروه «دولت اسلامی» و کمیتهٔ دوم برای نظارت از تحریم‌ها علیه گروه طالبان تشکیل شده‌است که ۱۵ عضو شورای امنیت در هر دو کمیته حضور دارند.

در حال حاضر نام‌های بیش از ۱۷۰ فرد و ۵ نهاد (شبکهٔ حقانی، دو صرافی و دو شرکت) در فهرست تحریم‌های کمیتهٔ ۱۹۸۸ درج است. بیشتر این افراد شامل رهبران و برخی اعضای فعال گروه طالبان اند. در جانب دیگر، تا حال نام‌های ۲۷ عضو گروه طالبان، شبکه حقانی و حزب اسلامی از فهرست سیاه حذف شده است.

با آنکه رئیس جمهور غنی نیز حدود یک سال پیش خواهان درج نام ملا هبةالله در فهرست تحریم‌های سازمان ملل متحد شده بود، اما اکنون و در حالیکه حکومت افغانستان صلح با طالبان را یک مسئلهٔ داخلی میان افغان‌ها نیز می‌خواند، دیدارهای رهبران حکومت با رئیس کمیتهٔ وضع تحریم‌های سازمان ملل نشانگر تفاوت دیدگاه‌ها در این مورد است.

از سوی دیگر، حکومت وحدت ملی صلح را در وضع تحریم‌ها و تشدید فشارها بر مخالفین مسلح حکومت جستجو می‌کند. سخنگوی ریاست اجرائیه به رسانه‌ها گفته است که «با شامل ساختن رهبران طالبان زمینهٔ گفت‌وگوهای صلح مساعد خواهد شد» در حالیکه پالیسی صلح از راه جنگ عملا ناکام شده و به همین دلیل شورای عالی صلح حکومت افغانستان نیز با موضع‌گیری رئیس اجرائیه مبنی بر شامل شدن رهبری طالبان در لیست سیاه، مخالفت کرد.

در کل، تامین صلح در افغانستان نیاز به تلاش‌های واقعبینانه دارد. وضع تحریم‌ها و انواع فشارهای دیگر در طول یک‌ونیم دههٔ گذشته نه تنها منتج به شکست طالبان و تأمین صلح و ثبات در کشور نگردیده، بلکه جنگ در کشور شدت بیشتر نیز یافته است. چنانچه پس از اعلام استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان و جنوب آسیا که در آن بر تداوم جنگ و سرکوب طالبان تأکید شده است، حملات طالبان افزایش یافته و جنگ جاری در کشور با شدت بیشتر جریان دارد.

نتیجه‌گیری

با آنکه سازمان ملل متحد کمک‌های زیادی به افغانستان کرده است، به خصوص پس از سال ۲۰۰۱ در عرصه‌های بازسازی و دولت‌سازی و سایر عرصه‌ها به افغانستان کمک کرده است، ولی نقش این سازمان در تامین صلح در افغانستان پیشینهٔ موفقیت ندارد. به خصوص در یک‌ونیم دههٔ گذشته اقدامی را که با صلح در افغانستان کمک کند، نکرده و هیچ‌گونه نقش سیاسی فعال‌تری برای آوردن صلح در افغانستان را بازی نکرده است. طالبان نیز بی‌طرفی این سازمان را همواره زیر سوال برده است.

در کنار این، با وجود کمک‌های این سازمان، افغانستان از نظر ساختار سیاسی نیز از ثبات سیاسی برخوردار نشده است. حکومت افغانستان همواره دچار اختلافات داخلی در نظام سیاسی بوده و در سال‌های اخیر، بخصوص پس از روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی، این اختلافات به اوج خود رسیده است. حکومت افغانستان در طول ۱۶ سال گذشته یک راه‌کاری موثر برای رسیدن به صلح با طالبان را در پیش نگرفته است و اکنون نیز هرچند صلح را از اولیت‌های خود می‌داند و تأکید دارد که درهای صلح به سوی مخالفین مسلح حکومت باز است، اما همزمان بر وضع تحریم‌ها علیه طالبان که با پروسهٔ صلح نه تنها کمک نمی‌کند بلکه متضاد آن نیز است، پافشاری می‌کند.

د سولې پر خبرو ټینګار
له چارې که له ناچارې؟

حضرت عمر زاخېلوال

د افغانستان په اوسنۍ سیاسي محتوا کې، سوله تر ټولو ډیر تکرار او آشنا مګر په ورته وخت کې تر ټولو لږ رون او درک شوی ټکی دی. دا ځکه چې لا تر اوسه نه د سولې لپاره معلوم همغږی تعریف شته او نه هم د زیاتو هغو نورو پوښتنو لپاره راڼه ځوابونه لرو چې د سولې د تعریف روښانتیا لپاره اړینې دي.

د سیمې او نړۍ د هېوادونو په دریځونو او خبرو کې هم د سولې په ټړاو همدا راز یو ابهام لیدل کیږي. د دریځونو د ناڅرګندوالي یو دلیل دا کیدای شي چې د سولې په اړه ضروري پوښتنې په جدي توګه لا مطرح شوې نه دي.

دبیلګې په توګه:

ایا زمونږ له لوری د سولې پر خبرو ټینګار له چارې دی او که له ناچارۍ؟

ایا هیواد کې مو د امن او ثبات لپاره له خبرو پرته بله غوره لار شته؟

دښمن څوک دی او د جګړې لپاره یې انګېزه څه ده؟ دیني ملاحظات، د قدرت لیوالتیا، خپګان، غچ اخیستنه، وېره، فرصت، یوازې ورانی او ترهګري؟ او یا په یوؤ ډول دا ټول په کې نغښتي؟

مونږ له کومو وسله والو مخالفینو سره سولې ته تیار یو، او له کومو سره نه یو؟

د سولې په بدل کې مخامخ لوري ته څه ورکولای شو؟ په قدرت کې برخه؟ د عادي ژوندانه لپاره فضا؟ د سیاست فرصت او یا یوازې عمومي بڼه او له محاکمې څخه خوندیتوب؟

ایا مخالفې وسلوالې ډلې په تصمیم نیولو کې خپلواکي دي؟

دا، او دې ته ورته ټولې پوښتنې هغه څه دي چې ځوابونه ېې په افغانستان کې سوله او د سولې هڅې تعریفولای او موخې یې روښانولای شي، مګر د دغو پوښتنو پر ځوابونو نه په افغانستان کې د سیاسي کړیو تر منځ او نه هم په نړیواله کچه حتی د یوې نسبي اجماع نښې ښکاري.

په وروستیو څو کلونو کې خو وضعیت نور هم پیچلی شوی چې پورتنیو پوښتنو ته یې د ځوابونو موندل لا ستونزمن کړي دي.

افغانستان او د امریکا ماموریت

په ۲۰۰۲/۲۰۰۱ میلادي کلونو کې د امریکې په مشرۍ د نړیوال ایتلاف لښکرې د یوؤ نسبتا» تعریف شوي ماموریت سره افغانستان ته راغلې، دښمن مالوم و، موخې او موخو ته د رسیدو ګامونو وضاحت درلود، مګر د وخت په تیریدو سره دا هر څه د نارونټیا او پیچلتیا په لور لاړل.

ولې داسې وشول؟

د امریکا په مشرۍ نړیوالو پوځونو افغانستان ته د ننوتو ستراتیژي درلوده مګر د وتلو یې نه درلوده. سربیره پر دې د نړیوالو پوځونو «له ترهګرۍ سره جګړه» له تیروتنو ډکه وه. د ایتلاف ځواکونه په بشپړه توګه د افغانستان له فرهنګي او عقیدوي ځانګړتیاو بې خبر وو، جګړې ته یې د غچ اخیستنې بڼه ورکړه او کاملاً ړانده عملیات یې وکړل، له طالبانو سره د سولې ممکن فرصتونه یا درک نه شول، یا پرې سترګې پټې شوې او یا هم رد شول. سربیره پردې د بهرني ځواکونو له لوری د عامو وګړو په کورونو د شپې لخوا خپلسري عملیات، د ملکي وګړو تنګول او توهینول، په هوایي بمباریو کې ملکي مرګژوبله، د شک، شیطانۍ او یا شخصي مخالفتونو پر بنسټ د زرګونو بیګناه ځوانانو څخه د بګرام او نوروبدنامو ناقانونو زندانونو ډکول او هلته د هغوی سپکول او ځورونې دبهرنیانو د تیروتنو هغه بېلګې دي چې پایلو یې د وسلوالومخالفینو لیکې غښتلې کړې.

د ۲۰۰۳ کال په پای کې د امریکا له لوري پر عراق یرغل او ورپسې په منځني ختیځ کې پراخ کړکېچ په افغانستان کې د جګړې ابعاد لا ډېر او پېچلي کړل.

لنډه دا، په کوم ډول چې په افغانستان کې د جګړې مدیریت وشو ستونزې یې کمې نه بلکې ډېرې کړې. همدارنګه په افغانستان کې یې تروریزم لا پسې پېچلی او ستونزمن کړ.

سیمه‌ییزه اجماع

په ۲۰۰۲/۲۰۰۱ میلادي کال کې په افغانستان کې د امریکې تر مشرۍ لاندې د نړیوال ایتلاف د پوځي مداخلې په اړه سیمه ییزه اجماع موجوده وه. د طالبانو رژیم نسکورېدل او پر ځای یې یو متمدن منتخب نظام راوستل، د سیمې د نږدې ټولو هیوادونو غوښتنه وه.

مګر د وخت په تېرېدو سره دا سیمه ییزه اجماع ورځ تر بلې کمزورې شوه. په یادو کلونو کې د سیمې هېوادونو (پاکستان، هند، ایران، سعودي عربستان، چین، ترکیه، روسیه او د منځنۍ اسیا هېوادونه) له امریکا او د امریکا له ملګرو لوېدیزو هېوادونو سره د افغانستان په اړه ورته دریځ درلود. کېدای شي ځینو دغو هېوادونو به بله لار نه درلوده مګر اکثرو یې په بېلابېلو دلایلو طالبان ګډ دښمن او ګواښ باله.

د بېلګې په توګه ایران او امریکا له ډېرو بدو دوه اړخیزو اړیکو سره سره د طالبانو پرځولو په هوډ کې همغږي وو. همدارنګه ایران او سعودي په افغانستان او سیمه کې د متضادو سیالیو سربیره د افغانستان په ټړاو همغږي وښوده.

په ۲۰۱۷/۲۰۱۶میلادي کلونو کې هاغه سیمه ییز او نړیواله اجماع او همغږي نوره له منځه تللې ښکاري.

په ۲۰۰۲/۲۰۰۱ میلادي کلونو کې د طالبانو، القاعده، د ازبکستان اسلامي غورځنګ، د ختیز ترکستان اسلامي خوځښت او داسې نورو سیمه ییزو وسله والو تحریکونو تر منځ ډیر توپیر نه ؤ. ټول د ګډو موخو وروڼه ګڼل کېدل او د یوه واحد ګواښ په سترګه ورته کتل کېده.

په ۲۰۱۷میلادي کال کې دا ټول سازمانونه، چې اوس یې شمېر ویل کېږي تر شلو (۲۰) رسیدلی، هر یو ځانګړی او توپیر وړ هویت لري. د داعش

رادبره کېدو سره د سیمې ځینو مهمو هیوادونو لپاره اوس د داعش او طالبانو تر منځ انتخاب د غور ټکی ګرځیدلی.

که د سکې بل مخ راواړو، افغانستان د سیمې د هیوادونو د برخورد او سیالیو لپاره هم ښه فرصت برابرولی شي هم بد.

افغانستان په ټراو د سولې ځلور اړخیزې خبرې اترېهم له ناکامۍ سره مخ شوې

په افغانستان کې سوله پرته له استثناء د ټولو په ګټه ده. لږ تر لږه به له افغانستان څخه دې هیوادونو ته د جګړې د اور بڅرکو خپرېدو ویره نه وي.

هغه هېوادونه چې په خپلو کې سره اختلافونه او دښمنۍ لري لکه پاکستان او هند، سعودي او ایران، ایران او امریکا، امریکا او روسیه، افغانستان د دوه اړخیزو همکاریو د ازمېښت ډګر ګرځولای شي.

تر ټولو مثبته همکاري د سیمې د اقتصادي پراختیا او نژدېوالی په ډګر کې را منځ ته کېدای شي. د داسې هیوادونو تر منځ لکه زمونږ د سیمې هېوادونه چې د اقتصادي زیرمو له پلوه متفاوت دي، په ځانګړې توګه چې ځینې یې د طبیعي زیرمو له پلوه غني دي او نور یې په صنعت او تکنالوژۍ کې لاسبري دي، سیمه ییزه اقتصادي همکاري او نژدیوالی یو د بل د اقتصاد ممد او بشپړونکی ګرځیدای شي.

مګر د داسې مواصفاتو او فرصتونو له موجودیت سره سره زمونږ هېوادونه په نړۍ والې کچه له اقتصادي پلوه یو پر بل تر ټولو کمه تکیه لري. زمونږ د سیمې د هېوادونو خپلمنځۍ سوداګري زمونږ د ټولې سوداګرۍ تر پنځه سلنې کمه ده، په داسې حال کې چې په اروپا کې د سیمې دننه سوداګري اویا سلنه او په اسیایې هېوادونو کې پنځوس سلنې ته رسېږي.

افغانستان کې د لاسوهنو دلایل

په افغانستان کې د سیمې هېوادونو لاسوهنو او منفي سیالیو لپاره کافي بد دلایل هم شته، د پخوانیو تربګنیو نه نیولې تر دې هڅو پورې چې په کابل کې د دوی تر اغېز لاندې فرمایشي حکومت را منځ ته شي، د بدو دلایلو کره نمونې دي.

د سیمې ډېرې مهم هېوادونه په افغانستان کې په نیابتي تخریبي سیالیو بوخت دي، یا د کوم بل سیمه ییز هېواد پر وړاندې او یا هم د امریکې پر ضد.

ویلی شو چې همدا اوس په افغانستان کې د سیمې د اکثرو هېوادونو حضور او سیالۍ د بدو موخو لپاره دي.

په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ټیکاو لپاره رښتینو سیمه ییزو هڅو ته اړتیا شته - هغه هڅې چې لا تر اوسه ډېرې نیمګړې دي او یا هم د سولې لپاره نه دي. سوال دا دی چې داسې هڅې په اغیزمن ډول څوک پیلولی او پر مخ وړلی شي؟

امریکا د تر ټولو ستر شریک په توګه مهم لوبغاړی کیدای شي، مګر تر اوسه یې نه ده ثابته کړې چې په دې برخه کې اغېزناک آسانتیا برابرونکې هم واوسي. تر اوسه چې امریکا په افغانستان کې د سولې او همغږۍ په موخه کومې سیمه ییزې ناستې رابللې دي، یوازې په دې توانېدلې چې له ښکېلو هېوادونو د همکارۍ لفظي بیانونونه تر لاسه کړي نه عملي ګامونه.

دا ځکه چې امریکا په سیمه کې له افغانستان پرته نورې لانجې او سیالۍ هم لري چې له املې یې ځینې مهم هېوادونه د امریکا نیت او مقاصدو ته دشک په سترګه ګوري.

پر افغانستان باندې د روسیې په نوښت وروستۍ سیمه ییزې ناستې هم له ناکامۍ سره مخ شوې، ځکه د نوموړې هېواد په نیت او انګیزه هم شکونه وو. په حقیقت کې هېڅ نړیوال یا سیمه ییز هېواد په یوازې ځان نه شي کولی افغانستان ته په سوله راوستو کې اغېزمن واوسي، مګر دا چې ټول ښکېل نړیوال او سیمه ییز هېوادونه په یوه غږ او صادقانه توګه د باور په فضا کې د پورتنۍ موخې لپاره ګډ کار وکړي.

په داسې فضا کې هر هېواد د خپلو ځانګړو امکاناتو، لیدلوریو، اندېښنو او فرصتونو په چوکاټ کې خپل ځانګړی رول لوبولای شي، نوځکه افغانستان ته د سولې په راتګ کې د هر ښکېل اغیزمن هېواد رول روښانول په کار دي.

افغانستان او سولې رښتونې هڅې

دا چې په سیمه کې افغانستان د جنګ د مرکز په توګه هره ورځ له ویجاړیو او وینې بهیدنې سره مخ دی نو د سیمې هیڅ بل هېواد د افغانستان په کچه د سولې او ورته د شرایطو برابرېدو لپاره صادقانه لیوالتیا نه شي درلودلی.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د امن جرګې هم پایله نه لرله

البته د سولې له مهمو شرطونو څخه یو هم دا دی چې افغانستان وکړای شي چې د خپلو ملي ګټو پر بنسټ ټولو ګاونډیو او مهمو سیمه ییزو هېوادونو سره له استثناء پرته نژدې دوستانه دوه اړخیزې اړیکې ولري او دا انګېرنه ورکه کړي چې ګواکې د یو ګاونډي یا سیمه ییز هېواد سره د افغانستان نژدې اړیکې بل کوم هېواد ته زیان رسولو په نیت دی. نو ځکه په افغانستان کې د سولې اړوند سیمه ییزې اجماع او همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو له فعالې ونډې، ملګرتیا او ملاتړ سره یوازې افغانستان کولای شي د مرکزي تسهیل کوونکي رول ولوبوي.

چین له پاکستان او افغانستان، دواړو سره د ډېرو نژدې اړیکو له املې د افغانستان او پاکستان تر منځ د بې باورۍ فضا په کمولو کې اغیزمن رول لوبولای شي. پاکستان د افغانستان او طالبانو تر منځ د خبرو اغیزمنه زمینه برابرولی شي.

روسیه، هند، ایران، ترکیه او سعودي په نورو ډګرونو کې د مخالفتونو سره سره لږ تر لږه سولې لپاره افغانستان د خپل مثبتو همکاریو د ازمېښت ډګر ګرځولی شي، لکه چې له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۵میلادي کاله پورې یې تر یو حده عملاً یو ځل ښودلې ده.

امریکا او ملګري غربي هېوادونه یې د پورتنۍ سیمه ییزې اجماع د جوړېدو سمبالونکی کیدای شي. البته دا ځل د اغیزمنې سیمه ایزې اجماع لپاره کیدای شي اړین اوسي چې د نړیوال او سیمه ییز تفاهم په چوکاټ کې افغانستان د ځینو سیمه ییزو او نړېوالو مخالفتونو لکه د هند او پاکستان، سعودی او ایران، امریکا او روسیې، او امریکا او ایران تر منځ لانجو کې د بشپړې بیطرفۍ اعلان وکړي.

د سولې لپاره سیمه ییزه اجماع او ملاتړ اړین دي مګر کافي ندي؛ سربېره پر دې د افغانستان له لوري د سولې خبرې باید د یو رښتینې اوږدمهاله ملي اجندا او د ملي پخلاینې او ثبات د اساس په توګه تعقیب شي نه لنډ مهاله سیاسي انګېرنو ته د ځواب او یا یوازې د جګړې د کمښت یا ودریدو د وسیلې په توګه.

زمونږ د سولې پلانونه، پالیسي، ستراتیژی، لیکلې موخې، غونډې او سیمینارونه باید له بسپنه ورکوونکو د مرستې جذبولو څخه زیاتې پر سولې د وسله والو مخالفینو د باور پر ډیرولو متمرکزې شي.

بالاخره د سولې هڅو د اغیزمنتیا لپاره به بهتره وي چې د سولې پروسه پروژوي، بودیجوي، تشکیلاتي، امتیازي، رسمي اودفتري چوکاټ څخه ووځي او په یو رښتوني نارسمي، نا دولتي، داوطلب، ولسي عنعنوي، ملي نوښت او داعیې چې پکې سولې ته د چوکیو او موقفونو د یو بل وېش په سترګه ونه کتل شي بدله شي.

له بي بي سي پښتو پاڼې نه په مننې

habibi@eslahonline.net

گلگرگهای آزادی

نور له خوب نه راویښ شو!

ډېر درد راکوي چې ګورم زما هېواد، زما کور زما جونګړه په پردی جګړه کې چې زمونږ په خاوره کې دوام لري ورانیږي، او قرباني یې دا بې ګناه او مظلوم افغانان دي. او که نور دا ولس په هوش رانشي، خپل مسؤولیت د هېواد او خلکو پروړاندې ونه پېژني، دا ملت به هېڅکله آرامه د سولې په فضا کې ژوند ونکړی.

نو پر افغان ملت غږ کوم چې درنو افغانانو! د افغانستان محترمو ولسونو او با همته ځوانانو! راځئ د خپل هېواد او ملت په دې ناوړه وضعیت چې اوس یې لري زړه وخوړوي. او د دې حالت نه د وتلو لپاره هر اړخیزه مبارزه او جهاد وکړو.

راځئ نور په خپله لاس په کار شو او د غفلت له خوب نه راویښ شو، خپل وطن په خپلو لاسونو جوړ کړو.

که غواړئ د دې ناوړه حالت په مقابل کې مبارزه او جهاد وکړئ، نو راځئ شپه او ورځ یوه کړو، کتاب او قلم خپل شعار وګرزوو، تعلیمي او تحصیلي مرکزونه مو تقویه کړو. او په مینه د علم مرکزونو ته ولاړ شو. په مختلفو علمي برخو کې تخصص وکړو، په خپلو کورونو، کلیو، مدرسو او مکتبونو کې د علم ډیوې بلې کړو. که غواړئ جهاد وکړئ د بې سوادی، فقر، قومي او ژبني تعصباتو، اداري فساد، اخلاقي فساد او د هر ډول ناوړه پدیدو پر وړاندې جهاد وکړئ. نو دا به مو غوره مبارزه او جهاد وي، ترڅو وکولی شو د افغانستان او افغانانو په اوسني وضعیت کې مثبت تغییر راولو. درنو عزیزانو! د خپل وطن جوړول او سولې راوستلو لپاره یوازې همدا یوه لار لرو چې باید د هغې منفي پدیدو د له منځه وړلو په خاطر کار وکړو چې د افغانانو تر منځ یې نفاق اچولی او دا ملت یې په برخو ویشلی. ګرانو هیوادوالو! د دې ستر هدف لاسته راوړل شپه او ورځ یو کول او نه ستړې کېدونکې هلې ځلې غواړي. نو راځئ چې د ځان سره تعهد وکړو او سر له نن نه دې ستر بدلون ته کار پیل کړو.

ملي وحدت، وروروليي، سولې او د افغانستان پرمختګ ته خپله ژمنتیا وښایو او په عملي ډګر کې خپل یوالی، ملي او اسلامي ګټو ته کار وکړو، ترڅو یو آزاد، آباد او ویښ ملت په توګه نړۍ ته ځان ور وپېژنو.

عبدالوارث سیرت (د حقوقو او سیاسي علومو محصل)

با الله جل جلاله صادق باشید!

به خدا سوگند نمي‌توانيم به آرزوهاي‌مان برسيم مگر آنكه با الله صادق باشيم. بدانيد كه مجموعه‌اى از مؤمنين صادق مي‌توانند در ميان استعمارگران تزلزل و وحشت ايجاد كنند كه هيچ وسيله مخرب نمي‌تواند آنان را به تزلزل وا دارد. نه سياست و نه گفتگو هيچ‌كدام ما را به مقصد نمي‌رسانند، بلكه آن‌روز ما به مقصد مي‌رسيم كه عزم صادقانه كنيم و بگوييم مرگ در راه الله از والاترين آرزوهاي ماست. آرى، آن‌روز روز خوشبختى است. ما هرگز مثل آنان نمي‌گوئيم: يا مرگ يا استقلال. زيرا اين سخنى است كه در خيابان گفته مى‌شود و در خيابان هم خاموش مى‌گردد. ولى فريادى كه از مسجد برخيزد، هرگز به خاموشي نمي‌گرايد، مگر هنگام رسيدن به بهشت ان‌شاءالله و در اين شرايط اين است وصيت من به شما: كه همت خود را براى ارتباط با الله گرد آوريد، همواره به مناجات خدا بنشينيد و بسيار دعا كنيد و متفرق نشويد به خواست خدا به حق خود خواهيم رسيد.

(امام حسن البناء رحمه الله).

نبوي حديث

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: سَبَابُ المُسلِمِ فسقٌ وَّقِتَالُه كُفرٌ (بخاري او مسلم)

مسلمان ته سپکنځل کول لویه ګناه (فسق) او له هغه سره جګړه او وژنه کفر (سره برابر) دی.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

معلومات

مراقب چشمانت باش!

جوانی به حکیمی گفت:
وقتی همسرم را انتخاب کردم،
در نظرم طوری بود که گویا خداوند مانندش را در دنیا نیافریده است...
وقتی نامزد شدیم، بسیاری را دیدم که مثل او بودند ...
وقتی ازدواج کردیم، خیلی‌ها را از او زیباتر یافتم...
چند سالی را که را با هم زندگی کردیم، دریافتم که همه زن‌ها از همسرم بهتراند.
حکیم گفت: آیا دوست داری بدانی از همه این‌ها تلخ‌تر و ناگوارتر چیست؟
جوان گفت: آری
حکیم گفت:
اگر با تمام زن‌های دنیا ازدواج کنی، احساس خواهی کرد که سگ‌های ولگرد محله شما از آن‌ها زیباترند.
جوان با تعجب پرسید:
چرا چنین سخنی می‌گویی؟
حکیم گفت: چون مشکل در همسر تو نیست. مشکل اینجا است که وقتی انسان قلبی طمع‌کار و چشمانی هرجایی داشته باشد و از شرم خداوند خالی باشد، محال است که چشمانش را به جز خاک گور چیزی دیگر پر کند.
آیا دوست داری دوباره همسرت زیباترین زن دنیا باشد؟
جوان گفت: آری
حکیم گفت: مراقب چشمانت باش و قلبت را پاک کن!

سیرت پیامبرت را مطالعه کن!

درباره‌ی سیرت نبوی سخنرانی داشتم...
در برابر دانشجویان ایستادم... خواستم اطلاعاتشان را بسنجم تا بدانم سطح کسانی که قرار است مخاطَبم باشند در چه اندازه ای است...
پرسیدم: بچه‌ها نام چهار تن از همسران پیامبر ـ صلی الله علیه وسلم ـ را بگویید...
چهل نفر بودند... یکی دستش را بلند کرد و با صدای بلند گفت: خدیجه... نفر دوم دستش را بلند کرد و گفت: عائشه...
بعد از آن کسی دستش را بلند نکرد!
کسی چیزی نمی‌گفت... هر چهل نفر ساکت شدند!
ناگهان یکی از آن‌ها گفت: یادم آمد... استاد اسم یکی از همسران ایشان یادم آمد! گفتم: کی؟ گفت: آمنه! گفتم: ایشان مادر رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ هستن...
تعدادی از دانشجویان خندیدند و تعدادی دیگر از تعجب دهانشان باز ماند! گفتم: بچه‌ها می‌شه پنج نفر از بازیکنان تیم ... را نام ببرید؟ سعی می‌کردم تیمی را نام ببرم که خیلی به آن‌ها نزدیک نباشد تا با پاسخ صحیح‌شان کاملا مایوس نشوم!
برای همین درباره‌ی تیم‌های خارجی پرسیدم تا شاید نتوانند جواب درست بدهند...
گفتم: کی می‌تواند نام‌های بازیکنای تیم ملی برازیل را بگوید؟
همه‌ی دست‌ها بالا رفت... همه داد می‌زدند: من! من!
نام بازیکنان تیم ملی برازیل از هر طرف به سمت من سرازیر شد! من هم اسم‌های آنان را با انگشت می‌شمردم... انگشتان دست اول تمام می‌شد و با انگشتان دست بعدی می‌شمردم... آن هم تمام می‌شد و دوباره می‌رفتم به انگشتان دست اول! اسم پانزده بازیکن را گفتند...
گفتند: ما هم بازیکنان اصلی و هم ذخیره‌ها را گفتیم...
راست فرمود خداوند متعال که: أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ
«یا شاید پیامبرشان را نشناخته‌اند و [در نتیجه] به انکار او پرداخته‌اند؟»
دانشجوهایم از چهره‌ام احساس کردند که چقدر غمگینم...
خودشان شروع به عذرخواهی کردند و گفتند: استاد ما را سرزنش نکن... رسانه‌ها این چهره‌ها را مطرح می‌کنن و ما هم نام‌های‌شان را یاد می‌گیریم!
گفتم: عذر نیارین... رسانه‌ها ممکنه باعث مشهور شدن این چهره‌ها شوند... اما نمی‌توانند شما را مجبور به پی گیری اخبار آن‌ها و حفظ نام‌ها و ماجراهای آن‌ها بکنن. بلکه خود شما به اخبار آن‌ها علاقه دارید و سیرت پیامبرتان را یک بار هم مرور نه می‌کنید.

پر خلکو رحم وکړئ، چې الله پرتاسې مهرباني وکړي

له ابي هریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
یو کس هېڅ ښه کار نه ؤ کړی، مګر هغه خلکو ته قرض ورکاوه، هغه به خپل استازي ته (چې په قرضدارانو پسې به یې لېږه) ویل: خلکو ته چې څه اسانه ؤ هغه اخله او چې ورته ګران ؤ هغه پرېږده او درګذر کوه، کېدای شي الله عزوجل مونږ ته (دګناهونو په ښښلو کې) در ګذر وکړي. کله چې دغه کس مړ شو الله عز وجل ورته وفرمایل: آیا تا کوم نېک کار کړی؟ هغه ورته وویل: نه! مګر ما به خلکو ته قرض ورکاوه او زما یو غلام ؤ کله به چې هغه د قرض د پیسو راوړلو پسې تللو، نو ما به هغه ته ویل: څه چې درته خلک په اسانی درکوي هغه اخله او د هغوی سره سختي مه کوه او ښښنه ورته کوه کېدای شي الله عزوجل مونږ ته (په دغه کار) ښښنه وکړي. الله عزوجل ورته وفرمایل: ما هم ته معاف کړې. (بخاري)

ستاره افغان

هنر یا فساد؟

قاضي شكيبائی

حقیقت این است که، ما هر سال در بر نامه‌ی برگزاری «ستاره‌ی افغان» و هر ماه و هر هفته و هر روز و هر لحظه در برگزاری امثال این برنامه‌ی تباه کن، شاهد تحقیر و بی اعتنایی به اصول و مقررات بنیادین اسلامی و گمراهی جوانان خود هستیم؛ این موضوع نمی‌تواند به‌عنوان مسئله‌ی اختلافی بین طبقه‌ی سنتی و نوگرا و طیف متوسط مطرح گردد و آنگاه بحث صورت بگیرد و نظریه پردازی شود؛ زیرا ملت به این نام‌ها کدام طبقه بندیی خاصی را در جامعه‌ی اسلامی افغانستان نمی‌شناسند و افراد غیر معتقد به اسلام، از هر طیف و طبقه‌ی که باشند، انگشت شمار اند.

در مقابل ملتی مؤمن و معتقد به اسلام، عددی به حساب نمی آیند و این حق ملت است، که وقایع و حوادث جامعه‌ی اسلامی شان را از دیدگاه اسلام مورد ارزیابی قراردهند، بنابرین مسئله‌ی که در این جا باید مطرح گردد، این است که آیا نوع موسیقی و آواز خوانی که در برنامه‌ی ستاره‌ی افغان و امثال آن اجراء می‌شود، با اساسات شریعت اسلامی مطابقت دارد؟؟ آیا اجرای این برنامه و امثالهم در یک کشور و جامعه‌ی اسلامی توهین به علماء اسلام، اخلاق اجتماعی و دیانت مردم نیست؟؟

آیا رهبران دینی و ملت افغان، در قبال ملیون‌ها قربانی که به‌خاطر بر قراری بنیادهای اسلامی شهید شدند مسئولیت ندارند؟؟

آیا بجاست که عده‌ی انگشت شمار را به‌نام نوگرا و نو اندیش که در حقیقت همان سکولارهای مادی‌گرا و استفراغ شده‌ی غرب اند و هنوز حتا وجود ذهنی هم ندارند، به‌نام یک طیف و یک گروه و طبقه‌ی از جامعه مطرح نموده و سامع و ناظرعملیاتی کردن نظریات الحادی آنان در جامعه اسلامی باشیم؟ نظریاتی که ریشه در دشمنی با اسلام دارد، آنان اسلام را تاریخ‌مند دانسته و معتقد اند که اسلام مخالف آزادی و حقوق انسانیت بوده وآزادی‌های انسانی را قربانی می‌کند و الحمد لله این‌ها عددی نیستند، که به‌عنوان طیف مخالف در مقابل جامعه‌ی اسلامی از آنها نام ببریم، در این میان تعدادی مسلمان هم هستند که بدون وابسته‌گی به کدام اندیشه و فکر دیگر، از روی عدم فهم و درک درست از اسلام، منع هر نوع فساد و رذالت را نشانه‌ی تحجر و ارتجاع می‌دانند و ما امیدواریم که خداوند جل جلاله آن‌ها را هدایت نماید.

بیاییم صرف نظر از این گروه بندی‌ها و طیف بندی‌ها و با در نظر داشت واقعیت‌های عینی، زمانی، مکانی، ادبی، فرهنگی و ذهنی ، بحث را روی آزادی و حقوق بشر، اصول و مقررات اسلامی و این‌که آیا مقررات شرعی مخالف آزادی های بشری است و دست و پای بشر را بسته کرده است یا خیر؟! و آیا رقصیدن و خواندن زن و بر انگیختن غرایز جنسی جوانان به هنر شباهت دارد و جزء علوم اجتماعی است یا زیاد تر جزء طبیعت حیوانی؟ که در وجود انسان و هر حیوان دیگر قرار دارد، متمرکز نماییم.

اول باید سوالی مطرح نماییم که به کدام دلیل فساد و فحشا و رقصیدن زنان را در محضر جوانان و در مجالس عمومی می‌توان هنر نامید و به‌نام آزادی و حقوق بشر و آزادی بیان آن‌را به رسمیت شناخت؟؟ چه طیف‌های از جامعه براین باورند، آیا این‌ها معنای واقعی حقوق بشر را می‌دانند؟ آیا تصویر درستی از آزادی بیان در ذهن شان وجود دارد؟ آیا آزادی به این معنا است که هرکس هر چه بخواهد و هر چه بگوید آزاد است؟ یا آزادی با درنظر داشت حقوق دیگران و احترام گذاشتن به عقاید همدیگر و رعایت اخلاق و امثالهم معنا پیدا می‌کند؟! بهتر است در این خصوص مثالی بیاورم تا مدعا بهتر واضح و روشن گردد؛ اگر کسی به دلیل آزادی بشر قوانین ترافیک را رعایت نکند و از چراغ قرمز عبور نماید حق با اوست؟ آیا می‌توان مقررات ترافیکی را به قوانین اصیل و مبتذل تقسیم کرد و آنگاه یکی را قبول و دیگری را رد نمود؟؟ آیا قانون اساسی، قانون جزایی و قانونی مدنی و امثالهم دست و پای بشر را نبسته و جلو آزادی‌های بشر را نه‌گرفته است؟

اگر ما آزادی را بلا قید و شرط مطرح نماییم، همانا پای آزادیی حیوانی به میان نمی‌آید؟؟ آیا قوانین ترافیک و امثالهم جلو آزادی‌های بشر را می‌گیرند و باید رعایت نگردند؟؟ آیا کوشش اجتماعی به‌طور مطلق در جهت از بین بردن هر چیزی باشد، که دست و پا گیر است؟

اما وقتی در پهلوی آزادی حرفی از اخلاق اجتماعی، ادب، رعایت شئون انسانی، رعایت حقوق دیگران، احترام گذاشتن به اصول و عقاید یک جامعه، یک کشور و یک ملت و یک امت به زبان بیاوریم، نتیجه بر عکس نتایج قبلی تبارز می‌نماید و هیچ کس جرأت نخواهد کرد در ملأ عام کاری انجام دهد، که روی اعصاب یک امت پا گذارد؛ این را هم باید بگویم: کسانی‌که به‌خاطر رعایت شرایط کنونی و مصلحت کشور از برخی رفتارهای فساد بار به‌نام هنر و به‌خاطر

پیچیده‌گی‌های شرایط سخت و نه به‌خاطر رعایت حقوق یک امت و رعایت مقررات اسلامی ممانعت می‌نمایند، در واقع ترس شرایط و مجبور شدن و تسلیم شدن در مقابل شرایط است و این بدین معناست، که چند روزی دل مسلمانان را خوش می‌سازند، تا بستر فساد خوب مساعد گردد و آنگاه آزادانه به پخش و نشر فساد و فرهنگ غرب بپردازند، که این یکی از روش‌های نوگرایان است و ریشه در مکتب مادی مارکسیسم و لنینیسم دارد و درطرز تفکر شان، «هدف توجیه گر وسیله است».

ایشان همیشه به‌خاطر ترس از شرایط؛ نه به‌خاطر مخالفت به کدام اندیشه‌ی عمومی و اخلاق و ادب انسانی از فحشاء و فساد برای زمان مؤقت ممکن است ممانعت نمایند، تأکید بر شرایط و ملاک قرار دادن آن، معنای جز بی اعتنایی به اصول و بنیادهای اسلامی در کشور افغانستان ندارد.

مردم، علمای دینی و اسلامی ازترور و گروه‌های تروریستی بیزارند؛ اسلام دین ترور و وحشت نیست؛ بل دین دفاع از ارزش‌های انسانی است و نمی‌خواهد که زیر نام آزادی بیان، حقوق بشر، حقوق زن، دفاع از ارزش‌های مدنی و حکومت داری خوب، به ملت خیانت شود.

عجیب است که افرادی در کشور اسلامی و در بین ملت مسلمان در روز روشن، برنامه‌ی فساد و فحشایی به‌نام ستاره‌ی افغان و امثالهم برگزار می‌کنند، و وقتی‌که مردم ندای اعتراضات شان را بلند می‌کنند، آنان را متحجر و مرتجع خوانده و می‌گویند: شما مخالف آزادی بیان و حقوق بشرید؟ کدام حقوق بشر؟ کدام آزادی بیان ؟ آیا کسی تاحال ثابت کرده که، اسلام مخالف حقوق بشر، حقوق زن، آزادی بیان ، آزادی بشر و مخالف دفاع از ارزش‌های مدنی است.

شریعت اسلامی بادر نظر داشت حقوق فرد و اجتماع و آزادی‌های فردی و اجتماعی، پاس‌دار واقعی حقوق بشر و آزادی‌های بشری است و افزون بر آن اگر مستمسک درین رابطه قانون اساسی افغانستان است، قانون اساسی افغانستان صراحتاً گفته که اجرای هر آنچه مخالف مقررات اسلامی است، در افغانستان ممنوع می‌باشد. گذشته از آن، نام کشور افغانستان، جمهوری اسلامی است، اگر بی بند و باری و ترویج فساد تمدن است؛ لعنت بر این تمدن، ملت ما این نوع تمدن را نمی‌خواهد. افزون بر آن، آیا می‌توان با این‌گونه اعمال، آثار جنگ را از سر و روی این سرزمین زدود و فردای نو را بنیاد نهاد. وقتی‌که از طرف علمای دل‌سوز بر علیه برنامه‌های فساد و فحشا که از نظر شریعت اسلامی هیچ شکی در فساد و تباهی آن وجود ندارد، تظاهرات صورت می‌گیرد، طرف‌داران فساد و ترویج فرهنگ غربی داد می‌زنند و حلقوم‌های شان‌را پاره می‌کنند و فریاد می‌کشند که: ده‌ها و صدها تشکیل زیر نام دین به‌وجود آمده و شمار چشم‌گیری از آنان، تجارت با دین را شروع کرده اند، منابع مالی بدست آوردند، غوغا سالاری و فشار به‌وجود آوردند، فرهنگ اوباشی‌گری، تهدید و ارعاب را بین شهروندان ترویج می‌دهند، به ریش حکومت و جامعه‌ی مدنی می‌خندند و تلقین می‌کنند، که دین به خطر افتاده.

می‌گویند: «کسی دزدی می‌کرد، صاحب مال گفت: چرا دزدی می‌کنی؟ دزد گفت: تو چرا به زنت کفش نمی‌خری؟»

طبق ضرب المثل مذکور «ده کجا و درخت‌ها کجا.»

بحث ما، بحث گروه‌های اوباش نیست، بحث علمای متدین و شریعت اسلامی است، ملت که نیامده از گروه‌های اوباش حمایت کند؛ حرف اصلی ما این است، که قرآن و سنت رسولش به عنوان قانون لا یتغیر امت اسلامی و کشور اسلامی افغانستان در خصوص برنامه‌ی ستاره‌ی افغان و امثالهم چه می‌گوید؟

آیا مطابق مقررات شرعی است و فتوای درین خصوص گرفته شده یا خیر؟ حرف ما این است؛ نه این‌که کدام گروه و کدام طیف چه کرده و چه می‌کند، آنان‌که که ملتی را متهم به نادانی می‌کنند و مدعی اند، که ملت نمی‌داند معنای دموکراسی چیست؟ جمهوریت چه معنای دارد؟ جامعه‌ی مدنی کدام است؟ و کدام نظام را می‌توان اسلامی نامید؟! در حقیقت به این ملت عظیم که در طول تاریخ مولوی‌ها، سید جمال‌ها، رازی‌ها، داشته و برای تحقق آرمان‌های بلند انسانی-اسلامی، جهاد و مبارزه نموده اند، توهین کرده و علما و اندیشمندان و محققین این مرز و بوم را به باد تمسخر می‌گیرد، و یقیناً این طرز رفتار، نمایان‌گر گرفتاری در جهل مرکب و بیماری روحی است.

اگر این سئوال را این طور مطرح کنیم که، شما چه تصویری از دموکراسی، نظام جمهوری و حکومت اسلامی دارید؟ بفرمایید مطرح کنید، چرا معطل اید؟ بیایید! ملت چندین ملیونی و حتا امت مسلمه را که قرن‌ها به بیراهه رفته اند، هدایت کنید و شکل درست حکومت اسلامی را نشان دهید.

کسانی‌که علت شکست احزاب، جریان‌ها و تیوری‌های کمونیستی در افغانستان را، در نادیده گرفتن حساسیت‌های اجتماعی و پشت پا زدن به بخشی از هنجارها و ارزش‌های مردمی می‌دانند و نه مقابله با اسلام؛ می‌خواهند حرکت جهادی اسلامی مردم افغانستان را کم رنگ کرده و راه را برای ورود فرهنگ غربی باز نمایند.

اگر ما ریشه‌ی شکست کمونیزم در افغانستان را، دین کامل و سعادت‌مند اسلام ندانیم، در حقیقت به خیل ملیونی شهدای دوره‌ی حکومت کمونستی در افغانستان و به ملت مؤمن و علمای متدین و سیاس کشور، توهین روا داشته ایم. این‌که علت شکست کمونسم و مادیت در افغانستان، اسلام عزیز بود، واضح تر از آفتاب است و در شعارها و حرکات ملت به صراحت وجود داشت و وجود دارد.

در قیام ۲۴ حوت هرات، قیام مردم کابل، بادغیس و دیگر ولایات و جهاد چهارده ساله‌ی ملت، چه شعاری به‌گوش می‌رسید، پشت بام‌ها مردم در شب‌ها چه شعاری سر می‌دادند، الله اکبر بود یا صدای موسیقی ستاره‌ی افغان؟! چرا حقایق را کتمان می‌کنید.

حرکت‌های مردمی، در زمان حکومت کمونستی در افغانستان، ریشه در تضاد کمونسم با اسلام داشت، چرا بعضی‌ها از اظهار کلمه بی اعتنایی به باورها و اصول اسلامی می‌پرهیزند و این موضوع را به‌نام بی اعتنایی به ارزش‌های مردمی که در جامعه‌ی سنتی وجود دارد مطرح می‌کنند، اما حقیقت این است که ملت افغانستان ملتی مؤمن و مسلمان است و اسلام قوانین و مقررات بنیادین دارد، که بهترین و کامل‌ترین قانون جهان است.

در واقع آن‌هایی که علماء را کهنه فکر و مرتجع می‌دانند، با کسانی‌که حرکت‌های جهادی مردم را در زمان حکومت کمونستی، نشأت گرفته از

بقیه در صفحه‌ی (۱۵)

چابهار بندر
او پر سیمه‌ییزې ترانزیټي سوداګرۍ يې اغېزې

تېره اوونۍ هند د ایران د چابهار له لارې، افغانستان ته د غنمو صادرات پیل کړل او د یکشنبې په ورځ (د اکتوبر ۲۹مه ۲۰۱۷) د افغانستان او هند د بهرنیو چارو وزیرانو د دغه بندر له لارې سوداګریزه راکړه‌ورکړه د وېډیو کنفرانس له لارې رسما پرانېسته. دا لومړی ځل دی چې هند د پاکستان د لارې پرځای، د ایران او په تېره بیا د چابهار له لارې افغانستان ته خوراکي توکي لېږدوي. له دې وړاندې پاکستان د ببرنیو حالاتو پرمهال، هند ته د دې کار اجازه ورکړې وه.

له افغانستان سره د هند د خوراکي مرستو ارزښت دومره نه دی، لکه د چابهار بندر له لارې افغانستان ته د مرستو لېږدولو دا پروسه، چې سوداګریز، اقتصادي او ستراتېژیک ارزښت یې له ورایه څرګندېږي. د بېلګې په توګه، په خپله د هند د بهرنیو چارو د وزیرې سوشما سواراج په اند، دا به د سیمې په سوداګرۍ کې پراختیا رامنځته کړي او سیمه به له ګڼو اړخونو لکه اقتصاد، سیاست، کلتور، ټکنالوژۍ او خدماتو له پلوه سره ونښلوي.

دا چې د چابهار بندر هوکړه‌لیک له کومو پراوونو راتېر شو، د دغه بندر اړتیا ولې پېښه شوه او د چابهار له لارې پیلېدونکې سوداګري به پر سیمه او بیا په ځانګړې توګه په افغانستان څه اغېزې ولري؟ دلته پرې شننه کوو.

د چابهار بندر هوکړه‌لیک

چابهار بندر د ایران په سوېل ختیځ ایالت سیستان بلوچستان کې پروت دی. د ستراتېژیک موقعیت له مخې دغه بندر د عمان خلیج پر غاړه، د هرمز ستراتېژیک تنګي ته نږدې او د هند سمندر یوه برخه ده، چې کابو ۱۴ زره هکتاره مساحت او په لویه کچه پکې د لویو بېړیو چلېدنې او لنګر اچونې وړتیا لري.

په ۲۰۰۳ کال کې چې کله په هند کې د «بي جي پي» ګونډ حکومت و، د هند د لومړي وزیر اټل بهاري واجپایي په دوره کې د ایران له حکومت سره د دغه بندر جوړونې په اړه هوکړه‌لیک لاسلیک شو. افغان حکومت هم د دغه هوکړه‌لیک برخه و؛ مګر پر ایران د نړیوالو بندیزونو له کبله، د دغه بندر د پراختیا هوکړه وځنډېده.

د دغه بندر د هوکړې له ځنډېدو سره سره، هند د زرنج-دلارام سړک پر جوړونې کابو ۱۳۵ ملیون ډالره لګولې، چې د نیمروز ولایت مرکز له چابهار بندر سره نښلوي او کار یې په ۲۰۰۹ کال کې بشپړ شو. له بله پلوه ایران هم له ۲۰۰۳ کال راهیسې د چابهار په سوادګریز زون کې ۳۴۰ میلیون ډالره پانګونه کړې ده.

دغه بندر اوسمهال په اوسط ډول په کال کې د ۲.۵ میلیون ټنه بار پورته کولو او خالي کولو وړتیا لري او د ایران حکومت هڅه کوي، د دغه بندر ظرفیت په کلنۍ ډول ۱۲.۵ میلیون ټنو ته لوړ کړي. د دې ترڅنګ ایران له دغه ښار څخه د افغانستان تر پولې پورې د سړکونو او ریل کرښو جوړونې په ډګر کې هم ډېر کار کړی او همدا راز د سیمې نور هیوادونه هم هڅوي، څو په دغه بندر کې پانګونه وکړي.

د دغه بندر وروستی درې‌اړخیز ترون په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې د ایران-هند او افغانستان د تخنیکي-اقتصادي ډلو او حقوقي متخصصینو له‌خوا چمتو شو او د ۲۰۱۶ کال د مې په ۲۳مه په تهران کې د درې واړو هېوادونو د مشرانو له‌خوا لاسلیک شو.

د چابهار بندر اړتیا

په چابهار بندر کې درې داسې هېوادونه راټول دي، چې له پاکستان سره په یو نه یو ډول ستونزې او رقابت لري. په دغو هېوادونو کې مهم هغه یې افغانستان دی، چې له تېرو څو لسیزو راهیسې له نړۍ سره د خپلې سوداګرۍ لپاره پر پاکستان متکي و. خو پاکستان بیا د افغانستان له دغې مجبورۍ څخه د سیاسي فشار د آلې په توګه کار اخېستی او هر کله چې د کابل او اسلام‌آباد سیاسي اړیکې خرابې شوې، پر افغان ترانزیټ یې اغېزې ډېرې لیدل شوې دي.

په بل اړخ کې، د هند او پاکستان دوديز رقابت او دښمني ده، چې له املې یې

پاکستان تل هڅه کړي، د هند او افغانستان ترمنځ خنډ واقع شي. ځکه اسلام‌آباد نه غواړي له افغانستان سره د ډیورنډ د لاینحل قضیې له کبله، د کابل او ډهلي اېتلاف رامنځته کړي.

که څه هم ایران له پاکستان سره د افغانستان او هند په پرتله رقابت نه لري؛ خو د اقتصادي ګټو له کبله غواړي د هند او افغانستان ترمنځ او له نړۍ سره د افغانستان سوداګریزه راکړه‌ورکړه ، د ایران د چابهار له لارې وشي.

د اپتا ټرون ناکامېدل

اپتا (APTTA) د افغانستان-پاکستان ترمنځ ترانزیټي-سوداګریز ټرون دی. افغانستان او پاکستان له ډېرو خبرو اترو وروسته د ۱۹۶۵م د اپتا ټرون پر ځای، په ۲۰۱۰ کال کې د اپتا ټرون لاسلیک کړ. د دغه ټرون له مخې د پاکستان د کراچۍ، قاسم او ګوادر بندرونو له لارې افغانستان ته د ترانزیټ اجازه ورکړل شوه. همدا راز افغان سوداګرو ته اجازه ورکړل شوه، چې د لاهور تر واهګې پورې خپل توکي ورسوي او داسې له هند سره په سوداګري کې ونښلي (افغان سوداګرو ته یوازې د هند-پاکستان ترمنځ د واهګې تر بندر پورې د تګ اجازه وه)؛ خو افغان سوداګرو ته اجازه نه وه، چې د واهګې بندر له لارې له هند څخه واردات وکړي.

په بل اړخ کې پاکستان منځنۍ آسیا او ایران ته د سوداګرۍ په موخه لاره ومونده. دغه ټرون تر ۲۰۱۵م کال پورې و، چې بیا افغانستان د دغه ټرون تمدیدول هند ته له بشپړې لارې ورکونې سره وټرل.

که څه هم افغان حکومت له ۲۰۱۰ کال راهسې هڅې وکړې، چې خپلې ترانزیټي لارې زیاتې کړي (د لاجوردو او چابهار ترانزیټي لارو د جوړولو په ټراو یې ګامونه واخیستل) ترڅو پاکستان له دغه هېواده تېرې شوې ترانزیټي لارې څخه د سیاسي ابزار په توګه ګټه وانه‌خلي. خو د ملي وحدت حکومت له راتګ سره، دغه هڅې لا ګړندۍ شوې او له املې یې په ۲۰۱۶م کې افغانستان او هند په دې موخه چې پاکستان بای‌پاس کړي، له ایران سره یوځای د چابهار ټرون لاسلیک کړ.

چابهار بندر او پر سیمه‌ییز سیاست یې اغېزې

د چابهار له لارې به د هند، افغانستان او ایران سوداګري پر سیمه‌ییز سیاست په لاندې برخو کې ژور تاثیرات پرېږدي:

لومړی؛ د ایران چابهار بندر به د افغانستان د سوداګرۍ لپاره د پاکستان د کراچۍ، قاسم او ګوادر بندرونو ځای ونیسي.

دویم؛ د چابهار بندر به افغانستان ته داسې څه ورکړي، چې له کبله به یې وکړای شي، پر پاکستان فشار وارد کړي که اسلام‌آباد له منځنۍ آسیا سره سوداګري غواړي، نو باید افغانستان ته هم د پاکستان له لارې له هند سره د سوداګرۍ کولو لاره پرانیزي. د چابهار له ټرون څخه وړاندې داسې څه کول سخت وو؛ ځکه کابل لا د پاکستان د لارې متبادل نه درلود.

دریم؛ د لاجوردو د لارې نه پیلېدو له کبله، اروپا ته د افغان سوداګرۍ لپاره تر ټولو لنډه لاره هم د چابهار له لارې ده.

څلورم؛ د چابهار له لارې هند کولای شي، په منځنۍ آسیا کې خپل رول ولوبوي. همدا یې یوازېنۍ لاره ده؛ ځکه د پاکستان له لارې دا ډول رول لوبول ناممکن دي.

پنځم؛ د چابهار ټرون به سیمه‌ییز اقتصادي الحاق او سوداګري زیاته کړي، هغه چې د ترانزیټ او سوداګرۍ په ټراو د پاکستان د منفي سیاستونو (منفي امنیتي ټګلارې) له کبله زیانمن شوی دی.

شپږم؛ د چابهار له لارې د غنمو د مرستې لېږدونه به هغه نیوکې هم سړې کړي، چې د چابهار له لارې پر سوداګرۍ یې کولې. دا به د چابهار بندر له لارې د سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه هم یو تر بله پورته کړي او د سوداګرۍ او ترانزیټ عملي چارې به پیل شي.

بقیه‌ای ستاره افغان...

حساسیت‌های اجتماعی و پشت پا زدن به بخشی از هنجارها و ارزش‌های مردمی جامعه‌ی سنتی می‌دانند، نه تنها فرقی ندارند و زبان هر دو یکی است؛ حتا این شیوه به مراتب بد تر و منافقانه تر است.

در نتیجه: اگر یک پژوهش روش‌مند صورت بگیرد، نظریات مردم، علماء و اندیشمندان مورد مطالعه و ارزیابی قرار گیرد، آن وقت به وضوح دانسته می‌شود، که علت جنگ چندین ساله در افغانستان چیست؟ و علت ادامه‌ی آن کدام است؟!

اگر به اساس رفراندوم آرای ملت در مورد نوع حکومت و انتخاب قانون اساسی و سایر قوانین مورد بررسی قرار گیرد، و به آرای ملت احترام گذاشته شود، امروز نه کسانی پیدا خواهد شد که با قلم به اسلام توهین کنند و نه هم حقوق مردم مظلوم و بیچاره پای‌مال می‌گردد. فعلاً در افغانستان هر کسی که به هر دلیلی به قدرت رسیده، چه طالب چه داعش و چه دولت به ملت مؤمن، ظلم می‌کند، شما اگر سفری به کابل و بعضی شهرهای بزرگ در افغانستان داشته باشید، به عمق فاجعه پی می‌برید؛ شمار فقیران، مساکین، ایتام مخصوصاً معتادان به لاتعد و لا تحصی رسیده است.

اطفال خورد سال دست به تگدی و کارهای شاقه می‌زنند، چرا کشورهای کمک کننده جهت رفع مشکل‌های ذکر شده، مردم را یاری نمی‌کنند؟ درین فصل زمستان زیر پل سوخته در کابل، در بین آشغال‌ها و کنار جاده‌ها در هرات و سائر شهرها چه وضعیتی وجود دارد ، فقر و بیکاری کمر ملت را شکستانده، وزارت معارف اگر ده نفر معلم لازم داشته باشد، دوصد هزار نفر تقاضا نامه پیش می‌کنند، روی این‌ها صحبتی نیست، فقط وقتی‌که علمای عزیز برنامه‌ی فاسدی را در این شرایط بحرانی محکوم می‌کنند و وظیفه‌ی شرعی دارند تا محکوم کنند، کسانی به دفاع از فساد و رذالت مقاله می‌نویسند، دهان باز می‌کنند و طیف بندی نموده و نظریه پردازی می‌کنند، که باید از این‌ها سئوال کرد که چرا راجع به مشکلات واقعی کشور چیزی نمی نویسید؟

هېواد کې د پوهنې حالت پر کوم لوري؟

نېټه: ۰۷-۱۱-۲۰۱۷

عدالت بنسټ تازه د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې له ۴۵۰ تنو ښوونکو، زده کوونکو او قومي مشرانو سره د پوهنې پر وضعیت مرکې کړې او پر همدې بنسټ یې د یوې نظر پوښتنې پایلې را ټولې کړې‌دي.

دغه نظر پوښتنه د پوهنې د وضعیت په اړه په درېیو برخو متمرکزه ده، چې لومړی برخه یې د پوهنې ټولیز وضعیت، دویمه برخه یې ترلې ښوونځي او درېیمه برخه کې د پوهنې لپاره ستونزمن کلونه جوړوي.

د نظر پوښتنې پایلې ښیي، چې د پوهنې وضعیت په تېرو لسو کلونو کې تر ټولو بد حالت ته رسیدلی، د ترلو ښوونځیو شمېر څلور چنده شوی، پر وزارت بهرنۍ مرستې دریدلې، فساد زور اخیستی او پوهنې وزارت له تاریخي پلوه ناسمې رهبرۍ سره مخ دی.

د نظر پوښتنې ۳۹۲ تنه چې ۸۷ سلنه کېږي، په دې اند دي، چې په تېرو درې کلونو کې د پوهنې سیستم د خرابۍ لوري ته تللی او د پوهنې د تېرو کلونو لاسته راوړنې له ګوابښ سره مخ شوې دي.

همدې ډلې پوښتل شویو خلکو دا هم ویلي، چې په تېرو درې کلونو کې په پوهنې وزارت کې سلیقوي چلند او قومي ګومارنې هم اوج ته رسېدلې دي.

د نظر پوښتنې ۴۵ پوښتل شویو کسانو چې ۱۰ سلنه کیږي، بیا ویلي، چې د پوهنې سیستم په تېرو درې کلونو کې نه پرمختګ کړی او نه هم شاتګ.

۲،۸ سلنه پوښتل شویو کسانو بیا ویلي، چې په پوهنې وزارت کې څه ناڅه اصلاحات راغلي‌دي او په وزارت کې فساد کم شوی دی.

د ښوونځیو وضعیت:

د نجونو د ښوونځیو حالت په تېرو درې کلونو کې بدترین حالت ته رسېدلی او د ښوونځیو د ترلې کېدو تر څنګ په تېرو درې کلونو کې ۲۰۰۰ زده کوونکې په ښوونځیو کې مسمومې شوې هم دي.

د هغو معلوماتو له مخې چې تر لاسه شوي‌دي، په روان لمریز کال کې یوازې ۳۵ سلنه ښوونځیو ته پر وخت کتابونه رسېدلي او پاتې ښوونځیو ته د کال په نیمایي کې ورغلي او یا ځینې ښوونځي له سره درسي مواد نه لري.

ترلې ښوونځي:

په ټول هېواد کې له څه باندې ۱۶ زره ښوونځیو څخه دا مهال ۱۳۰۰ یې ترلې شوي دي، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې د ټولو ترلو ښوونځیو شمېر ۳۸۰ بابه وو.

په هغې نظر پوښتنه کې چې د عدالت غوښتنې ګروپ ترسره کړې، ٤٦ سلنه یا (٥٩٨) ښوونځي د مخالفو وسله‌والو ګروپونو د ګوابښ له املې ترل شوي دي.

۳۸ سلنه یا (٤٩٤) ښوونځي د پوهنې وزارت د کمزورۍ او له ځینو سیمو سره د سلیقوي چلند له املې ترل شوي.

٦ سلنه یا (۷۸) ښوونځي د امنیتي سکتور د وزارتونو له املې ترل شوي یا په کې پوستې او نظامي مرکزونه جوړ شوي دي.

۵ سلنه یا (٦٥) سلنه ښوونځي د محلي خلکو د لیوالتیا د کموالي له املې ترل شوي دي.

٤ سلنه سلنه یا (٥٤) ښوونځي د نا معلومو دلایلو له مخې په ټول هېواد کې ترل شوي دي.

په کندهار، زابل، هلمند، ننګرهار، کندز، بغلان، غزني، وردګو، لوګر او ننګرهار کې د مخالفینو د مستقیم ګوابښ له املې ډېر ښوونځي ترل شوي.

په پکتیکا، کونړ، ننګرهار، لوګر، بلخ، کندز، وردګ، غزني، زابل، روزګان، هلمند او کندهار ولایتونو کې دویمه درجه ترل شوي ښوونځي د پوهنې وزارت د کمزورۍ له املې دي.

هغه امت

اوس هغسې نه دی!

محمد وقایت الله وقار

د تاریخ زرینې پاڼې چې د چا په نومونو ښکلې شوي دي او د تاریخ په منځ کې چې څوک د ډېرو ویاړونو، کارنامو او مجدونو خاوندان دي، هغوی اوس هغسې نه دي.

هغوی چې پرون په خپله آزاد وه او د نورو د آزادۍ بوللې ېې ویلې، نن په خپله د غلامۍ په زنځیرونو تړل شوي دي او د خپلې غلامۍ او آزادۍ تر منځ د بېلتون احساس هم نه شي کولای، د نورو آزادي خو لا ډېره لرې خبره ده.

هغوی چې پرون د هر مثبت ډګر مخکښان او سرلاري وو، په خواشینۍ سره نن د وروسته پاتې والي په اور سوځي او هېڅ نه پوهېږي چې خپل له لاسه وتلی پت او پرمختګ څنګه یو ځل بیا لاسته راوړي، تر څو خلکو ته وښایي چې زمونږ موخه څه ده او ستاسې لید باید زمونږ په اړه څه وي؟

هغوی چې پرون ېې د حجاز په شګلنه زمکه کې د نفرتونو ریښې وباسلې، خلک ېې د یوبل سره ورونه کړل، د خلکو زړونه ېې د یوبل په مینه ډک کړل او د خلکو تر منځ ېې په یوبل د باور کچه زیاته کړه، نن په خپله خاورینه ځمکه د نفرتونو ریښې پالي، نن هڅه کوي چې یو مسلمان له بل مسلمان سره واچوي، نن غواړي چې د خلکو ترمنځ واټن زیات کړي، بې باوره ېې کړي او په بلا زیاتو نفرتونو کې خپله هم ښکېل دي او د نورو د رانیولو لپاره هم هڅې کوي.

هغوی چې پرون ېې د نړۍ ناامنه سیمې له امن او تېکاو څخه برخمنې کړې، نن په خپله د بدامنیو ښکار دي او د خپل ورور د ضرر له املې د شپې خوب نه لري او د ورځې د حلالې روزۍ کوم درک.

هغوی چې پرون اوسېدل، له ننیو څخه غوره دي او شاید ننې به له سبانیو غوره وي، مګر که الله تعالی وغواړي، ځکه څومره چې څوک د برکتي او غوره پېرېو یعنې: خیرالقرون ته نږدې وي، هومره به د نېکیو د لاسته راوړو په چل د پوهېدلو ښه توان لري او څومره چې څوک شرالقرون کې وروسته راځي او ډېر پاتې کېږي، نو په ډېرو فتنو کې ېې د غورځېدو وېره وي.

هغوی چې پرون ېې د نړۍ واګې په خپل لاس کې اخیستې وې، په ټوله دنیا ېې راج چلېدو او ټولې دنیا ورته د احترام ښکارونه کړي وه، نن هغسې نه دي، نن د هغوی واګې بل چا په لاس کې اخیستي او څه چې ېې زړه غواړي پرې کوي ېې .

هغوی چې د قانون پیلامه ېې په اقرء شوې ده او پرون د علم، قلم او کتاب ستوري وو، نن هغسې نه دي، نن نه یوازې دا چې له لوست لرې دي، لیک ېې هم پرېښې، علم، قلم او کتاب هر څه ورته بې ارزښته ښکاري او د اقرء پرونۍ امت نن د لوستونکي امت په نومولو سره نه ارزي، ځکه چې پرون ېې غوځ اکثریت له علم برخمن ؤ او نن مو غوځ اکثریت له رښتیني علم بې برخې دی.

هغوی چې چاروا کي به ېې د تواضع ېلګې وې، شپه او ورځ به ېې د ولس په خدمت تېرولې او د ولس لپاره به ېې د خپلو وختونو، استعدادونو او شتمنیو سرښندنه د ځان لپاره نېکمرغي ګڼله، نن له هاغسې چارواکو محروم دي، نن ېې د واکمنو تر ټولو ستر هدف د خپلو جېبونو ډکول او د خپلو شهوتونو پالل دي، نن که د ولس خدمت هم کوي یوازې د ولس په سترګو کې د خاورې د شیندلو په خاطر دی، نن ېې په واکمنو کې داسې خلک هم شته چې شاید غرور ېې د موسی علیه السلام له فرعونه کم نه وي.

هغوی چې پرون ېې د غوره اخلاقو له کبله ډلې ډلې خلک مسلمان کېدل، په خواشینۍ سره چې نن ېې د اخلاقي تعامل کچه هومره نه ده او ورځ تر بلې ېې اخلاق مخ په ځوړ روان دي.

هو، هغوی چې پرون څنګه وو، نن هاغسې نه دي، نو ځکه خو ورته خپلې پرونۍ شېبې چې په نېکمرغیو، بریاوو او پرمختګونو رنګینې وې، د یو داستان په توګه پاتې دي او د هغې له برکت څخه اوس ډېر لږ برخمن دي، ځکه د پرون خلک په پرونې سوغات ښاییدل او د نن خلک لا د هغې ډالۍ جوګه شوي نه دي!

جهاد د وژلو لپاره نه، بلکې د ظلم پر خلاف

سردار محمد دیندارخیل

جهاد یوه سپېڅلې کلمه ده، همدارنګه جهاد د اسلام له ارکانو څخه شمېرل کېږي چې انسان ته د نېکمرغۍ پیغام ورکوي او د بشري ټولنې لپاره پکې د خیر خواهۍ پیغام پروت دی، او دا خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غزاګانو کې او همدارنګه د خلفای راشدینو په پېرونو کې تر ټولو ښه روښانه ده.

ځینې خلک له جهاد څخه یوازې د وژنو او ورانولو تصویر په ذهن کې لري په داسې حال کې چې د تاریخي روایاتو پر بنسټ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په (۲۷)غزاګانو کې شاید کم او زیات زر کسان وژل شوي وي، حال دا چې د بشریت په نورو جګړو کې چې کوم کسان وژل شوي دي تعداد یې یوازې الله تعالی ته معلوم دی. د نورې نړۍ خبره به نه کوو، له کوم وخت نه چې په افغانستان کې روانه جګړه پیل شوې او په تېره بیا له کله نه چې امریکا زمونږ په ګران ټاټوبي کې خپلې کرغېړنې پښې ایښي دي، نو تر دې دمه زمونږ په زرګونو هېوادوال په یوه او بل نامه وژل شوي دي، چې په خواشینۍ سره دا کرغېړنه لړۍ اوس هم روانه ده او اوس هم په یوه او بل نامه قرباني کېږو او خدای خبر چې دا لوبه به ترکومه روانه وي.

دا خو یې یوه وړه بېلګه وه که چېرې له افغانستان څخه بهرون نورې اسلامي نړۍ ته سر وښکاره کړو نو بیا دا ډول نور جنایتونه هم راڅرګند شي.

د دې پېښو او واقعیتونو څخه ښکاري چې جهاد د بشري ټولنې د سوکالۍ او هوساینې لپاره فرض شوی دی، نه د کوم بل هدف لپاره، جهاد ددې لپاره فرض شوی دی چې بشریت آزاد کړي او د هغوی له غاړې د غلامۍ ځنځیرونه وشکوي، د ظلم او زیاتي مخه ونیسي او هر څوک وکولای شي په آزاده فضا کې ژوند وکړي.

لکه څرنګه چې حضرت رِبْعِي بن عامر رستم ته وویل: (الله تعالی مونږ د دې لپاره استولي یو چې انسانان د بندګانو له بندګۍ خلاص او د یوه الله تعالی بندګۍ ته یې راوبلو، د دنیا له تنګسیایې د آخرت او دنیا پراختیا ته را وباسو، د ادیانو له ظلم څخه یې د اسلام عدل ته راوکاږو، مونږ یې خپل مخلوق ته د دې لپاره را استولي یو چې هغوی دې کار ته راوبلو، چاچې له مونږ سره دا خبره ومنله، مونږ یې هم ترې منو، بېرته ترې ګرځو او په خپله خاوره یې په امن کې پرېږدو، او چاچې انکار وکړ، مونږ ورسره جګړه کوو تر څو چې د الله تعالی وعدې ته یې ور وګرځوو).

کېدای شي له دغه مثال سره به خبره یوه اندازه روښانه شوې وي چې جهاد د سوکالۍ او هوساینې لپاره فرض شوی دی، نه د کوم بل هدف او مقصد لپاره، په اسلام کې د انسان ژوند، وینه او بدن خوندي دي او دا هغه حقیقت دی چې څوک ترې سترګې نه شي پټولی، د قرآن کریم آیتونه او رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث وربانده ګواه دي او د خلفای راشدینو کړنلارې دا خبره نوره هم ثابتوي، کله به چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه مجاهدین د جهاد سنګر ته لېږل نو داسې لارښوونې به یې ورته کولې:

۱- ښځې، ماشومان او بوډاګان مه وژنئ.

۲- مثله مه کوئ (اندامونه مه پرې کوئ)

۳- راهبان او عبادت کوونکي مه ځوروئ او عبادتخانې مه نړوئ.

۴- هېڅ مېوه لرونکې ونه مه پرې کوئ او کښتونه مه سوزوئ.

۵- آبادۍ مه ویجاړوئ.

٦- له ژمنې او تړون ماتولو په هر حال کې ځان وژغورئ.

۷- چا چې ستاسې اطاعت وکړ، نو د یوه مسلمان په څېر یې د نفس او مال په څېر درناوی وکړئ.

۸- د غنیمت په مالونو کې خیانت مه کوئ.

۹- څاروي مه وژنئ.

۱۰- په جنګ کې شا مه اړوئ.

د ابوبکر رضي الله عنه وینا ته که وګورو دا خبره نوره هم کره کېږي چې جهاد د ټولو مخلوقاتو د سوکالۍ لپاره فرض شوی دی، کله چې اسلام خپل پیروان د بوټو له بېځایه قطع کولو څخه منعه کوي او د حیواناتو له بې هدفه وژنې څخه یې منعه کوي، دا خبره نوره هم قوي کوي چې د انسان وژنه خو بېخي ممنوع ده.

اسلام تل مخکې له جګړې خپل دښمن ته درې وړاندیزونه کوي لکه څرنګه چې حضرت ربعي بن عامر رضي الله عنه رستم ته وویل:(یا اسلام ومنئ، مونږ به تاسې په خپله خاوره او ځمکه کې پرېږدو، یا جزیه ومنئ، په دې سره به هم مونږ له جګړې لاس واخلو، که چېرې بیا تاسې زمونږ مرستې ته اړتیا نه درلوده، زمونږ درسره کار نشته او که زمونږ مرستې ته مو اړتیا وه، مونږ له تاسې سره د دښمن په مقابل کې مرسته کوو.که دا نه وي نو بیا په څلورمه ورځ ځان جګړې ته چمتو کړئ که په دې درې ورځو کې تاسې جګړه پیل نکړئ، مونږ جګړه نه پیل کوو، او زه ستا لپاره د خپلو ټولو ملګرو په اړه ضامن یم.)

د جهاد اصلي موخه داده چې د الله تعالی کلمه اوچته شي او بشریت له غلامۍ څخه وژغورل شي د سوکالۍ او هوساینې په ټال کې وزانګي او د تل لپاره یوازې د یو الله تعالی بندګي وکړي او ددې لپاره دا ضرور نده چې حتماً دي باید خلک ووژل شي او کلي دې ویران شي.

یک‌صدمین سال‌گرد
اعلامیه‌ی ننگین استعماری بالفور

عزیز محمد عزیزی- لندن

در اواخر جنگ اول جهانی در ۱۹۱۷ آرتور جیمزبالفور (Arthur James Balfour) سیاست‌مدار بریتانیایی، که بین سال‌های ۱۹۰۲ تا ۱۹۰۵ سمت نخست‌وزیریی این کشور را به عهده دار بود، نقش بزرگی در تشکیل اسرائیل امروزی داشت. وی در جریان جنگ جهانی اول و پس از تصرف فلسطین (که پیش از آن در اختیار امپراتوری عثمانی بود).
«اعلامیه بالفور» را خطاب به رئیس فدراسیون صهیونیسم منتشر ساخت و در آن بر حمایت انگلیس، از تأسیس خانه‌ای ملی برای یهودیان در فلسطین تأکید کرد. این بیانیه را سرآغاز تلاش در عرصه‌ی بین‌المللی برای تأسیس اسرائیل دانسته‌اند. استعمار بریتانیای کبیر، برای بسط و توسعه‌ی نفوذ سیاسی خود در شرق میانه، برای تاسیس دولت یهودی در خاک فلسطین، دست به یک اقدام ضد موازین حقوق بین المللی در قلمرو خاک فلسطین زد، و در راستای این اندیشه‌ی استعماری قرار شد تا یهودی‌های پراگنده از سرتا سر دنیا را جمع آوری و در خاک فلسطین اسکان و جابجا نموده و یک حکومت خالص یهودی را در سرزمین فلسطین ایجاد کنند.
اعلامیه‌ی ۱۹۱۷ بالفور، متعاقب جنگ اول جهانی، حاصل ایدهٔ ناپاک سیاست‌گزاران امپریالیسم بین المللی در آن زمان، و تغییر تاکتیک استعمار انگلیس و حفظ پایگاه‌های خود در مستعمرات به‌حساب می آمد. بر اساس این اعلامیه‌ی منفور، یهودیان کشورهای مختلف جهان را به سرزمین‌های اعراب (فلسطین) کوچ داده و تجهیز و تسلیح ساختند.
بیانیه‌ی بالفور، مدیون تلاش و لابی‌گری «حییم وایزمن» رئیس وقت سازمان جهانی صهیونیسم، «والتر روتشیلد» عضو مجلس عوام بریتانیا و بانک‌دار بریتانیایی و هم‌چنین ناحوم سوکولوف روزنامه‌نگار و زبان‌شناس لهستانی بود، در مذاکراتی که منجر به صدور بیانیه‌ی بالفور شد، نقشی کلیدی داشتند. مهاجرین صهیونیست، در سال ۱۹۲۸، در اولین تهاجم مسلحانه‌ی خود، ۳۸۵ فلسطینی را به قتل رساندند. در پی تشکیل دولت صهیونیست در سال ۱۹۴۸م، موج کشتار و بیرون راندن اعراب، به اوج خود رسید. صدها هزار نفر فلسطینی یا کشته شدند و یا از خاک خویش رانده شدند. به اعتراف کمیسون امور پناهنده‌گان سازمان ملل متحد، این بزرگ‌ترین فاجعه‌ی تاریخ بشری بود.
در جنگ ژوئن سال ۱۹۶۷م، دولت صهیونیستی اسرائیل، با حمایت پدرانش، با اشغال شبه جزیره‌ی سینا، بلندی‌های جولان و ساحل غربی رود اردن، وسعت اراضی تحت اشغال خود را تا سه برابر افزایش داد. کشور اسرائیل به عنوان بخش مشترک خاک آمریکا و انگلیس، تاکنون فاقد مرزهای مشخص بین المللی است .
به‌دنبال تغییر توازن قوای بین المللی به سود ارتجاع و امپریالیسم، در آخرین دهه‌ی قرن گذشته، تهاجمات برتری طلبانه و جهان گشایانه‌ی نیوفاشیسم و نیولیبرالیسم، با شدت به اجرا در آمد. به‌ویژه، طی سال‌های اخیر، با مشاهده‌ی گرایشات ضد استعماری ترقی‌خواهانه در آمریکای لاتین، بیداری ملل آفریقا، آسیا و حتا اروپا، این تهاجمات در خاورمیانه، حدت و شدت بی سابقه‌ای به‌خود گرفت.
در نهایت، روند حوادث امروزی فلسطین، همه و همه نشان از اجرای سیاست «خاورمیانه‌ی بزرگ» امپریالسم دارد.
توسعه‌ی سرزمین‌های اشغالی در خاک فلسطین وسپردن آنها به یهودی‌های مهاجر خارج فلسطین و تخریب خانه‌های فلسطینی‌ها و اعمار جدید شهرک‌ها و اسکان یهودی‌های مهاجر؟! (غاصب) و مسلح ساختن آنها در مناطق اشغالی و تعمیر دیوارهای بلند کانکریتی غیر قابل نفوذ دراطراف مناطق اشغالی، کما فی السابق ادامه دارد.
استعمارگران امپریالیسم، بعد از به قدرت رسیدن جنبش حماس در انتخابات، در حالی‌که، با محاصره و قطع کمک‌ها، به مردم فلسطین گرسنه‌گی می‌دهند وحتا با آنهم اکتفا نکرده و فاجعه‌های صبرا و شتیلا در خاک لبنان در منطقه‌ی غزه‌ی فلسطین را مرتکب شدند و بیش از پنج‌هزار نفر زن و مرد و کودک فلسطینی را شهید، بیش از هشتاد هزار نفر را زخمی و قسمت زیادی از غزه را به ویرانه تبدیل کردند.
اما دول استعماری برای جلوگیری ازین جنایت صهیونیست‌ها کوچک‌ترین اقدامی نکردند .
متاسفانه بعد از سقوط خلافت عثمانی کشورهای مرتجع عرب و ایران صفوی، که با استعمار انگلیس همکار بودند، کشورهای مرتجع عرب، قضیه‌ی فلسطین را از قضیه‌ی امت اسلامی جدا دانسته و ناسیونالیست‌های عرب آن‌را قضیه‌ی عربی تلقی کردند و امروز جهان عرب با کمال خفت و شرم‌ساری، قضیه‌ی فلسطین و قدس شریف را یک قضیه و موضوع فلسطینی شمرده و بعضی ازین دول مرتجع با اسرائیل روابط تنگاتنگ سیاسی و بعضاً روابط پنهانی برقرار کرده اند و این امر سبب تشجیع بیشتر صهیونیست‌های اسرائیلی برای توسعه‌ی شهرک‌های یهودی نشین و کوچ اجباری فلسطینی‌ها شده است.
حمایت بلا قید و شرط امریکا از صهیونیزم و همچنین بعضی از دول اروپایی از رژیم اپارتاید صهیونیستی سبب شده تا امروز ملت فلسطین بیش از زمان گذشته تنها گذاشته شوند و استعمار بین المللی هر کشور و نظامی‌که در شرق میانه برعلیه اشغال‌گران صهیونیزم موضع‌گیری تند نموده و از داعیه‌ی فلسطین حمایت کند، مورد تهدید مستقیم وغیر مستقیم اردوگاه امپریالیزم جهانی قرار می‌گیرند و در بین سران عرب و غیر عرب، جای نورالدین زنگی، سلطان صلاح الدین ایوبی، سلطان عبدالحمید، سلطان سلیم، محمد فاتح و... و حتا شخصیت‌های باغیرتی همچون صدام حسین نیز، خالی است و این امر سبب شده است تا صهیونست‌ها در ادامه‌ی همان جنایات بیش از ۹۰ ساله بر علیه اعراب این سرزمین، بیش از پیش نفوز و.توسعه‌ی خویش را گسترش دهند.
امروز سرزمین فلسطین به سه بخش کاملاً مجزا تقسیم شده است، قسمت ساحل غربی و محدوده‌ی بیت المقدس و شهرهای اطراف آن، مناطق اشغالی اطراف بیت المقدس و شهرهای اطراف حکومت خودگردان فلسطین و منطقه‌ی غزه که در کنترول حماس است. اشغال سرزمین فلسطین زمینه سازی برای دخالت نظامی درعراق سوریه و لبنان و مصر و یمن و لیبی گردیده است و اختلاف و کشیده‌گی بین ترک‌های عثمانی و اعراب و سبب کشیده‌گی در بین خود کشورهای عربی و نمی‌تواند مفهومی جز اجرای سیاست کهنه‌ی «تفرقه بینداز و حکومت کن» امپریالیسم، برای واقعیت بخشیدن به رؤیای صهیونیستی «از نیل تا فرات» باشد.
امروز جهان شاهد است، که اکثریت نفوس فلسطین که بالغ بر شش ملیون مسلمان اند، از خانه و کاشانه‌ی شان به‌زور اخراج شده و فعلا در کشورهای مانند اردن، لبنان، سوریه، مصر و سایر بلاد عربی و اروپایی فرار کرده اند و اسرائیل اجازه‌ی بازگشت ایشان را به خانه‌های شان نمی‌دهد .
و تراژیدی فلسطین به‌عنوان لکه‌ی ننگی بر دامن امریکا و کشورهای حامی صهیونیزم و حتا سازمان ملل متحد می‌باشد.
با تأسف که امروز در کشور بریتانیا لوبی‌های صهیونیزم، که نفوذ گسترده‌ی در حزب کانزروتیف بریتانیا دارند، از اعلامیه‌ی بالفور که به‌عنوان لکه‌ی سیاه در تاریخ سیاست‌های خارجی انگلیس مطرح است، تجلیل به‌عمل آوردند؛ در حالی‌که حزب کارگر و بیشتر احزاب سیاسی انگلیس و اکثریت ملت بریتانیا به‌خوبی می‌دانند، که سپردن خاک فلسطین به صهیونیست‌ها، فقط برای بسط و توسعه‌ی استعمار بریتانیای کبیر در شرق میانه بوده و دیگر هیچ اصل و مبنای حقوقی و بین المللی ندارد و ازین اعلامیه و ازین تجلیل حمایت نکردند.
امروز فلسطینی‌ها درغزه، نابلوس، رام الله، بیت اللحم و سایر مناطق فلسطین اشغالی و خاصتا قدسیان حرم قدسی، صدمین سال‌گرد «اعلامیه‌ی بالفور» را تقبیح کردند و از حکومت بریتانیا درخواست کردند، تا بابت این اعلامیه‌ی ننگین معذرت خواهی کند.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت درکشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

چـینه

فابریکه تولیدی لوازم تشناب

CHEENA

اولین فابریکه تولیدی لوازم
تشناب با پنج سال گرنتی

آدرس: پکتیاکوټ، نساجی سابقه کابل
Cheena Sanitary Fitting industry /
0789090677

واسکت دریشی

HANEEF TAILOR
H.T.S

خیاطی و رخت فروشی حنیف ستایل

رخت فروشی و دوخت لباس با دیزاین کتلاک پذیرفته میشود

+93783000135 - +93795552296
/Haneef-Tailor
haneef.tailor.style@gmail.com
کلوله پشته بین چهار راهی ترافیک و گل سرخ

اصلاح ملي

د تېرو کلونو کلکسیونونه

اوس پې تر لاسه کړئ

آدرس: د جمعیت اصلاح مرکزي دفتر - تیمني سابقه - خلورمه کوخه
شمېره: ۰۷۸۰۷٤۱۳۱۲

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943